عمومي اسامبله
امنيت شورا

خپرېدل: عمومي
27 فبرورۍ ۲۰۱۵
اصل: انګليسي

عمومي اسامبله
نهه شپېتمه ناسته
د اجنډا ۳۷ ماده
**د افغانستان وضعيت**

د امنيت شورا
اویایم کال

## د افغانستان وضعيت او پر نړيواله سوله او امنيت يې اغيزې

## د عمومي منشي راپور

### اول. پيژندنه

۱. دغه موجوده راپور د عمومي اسامبلې د ۶۸/۱۱ پريکړه ليک او د امنيت شورا د ۲۱۴۵ (۲۰۱۴) پريکړه ليک په تعقيب په کومو کې چې له ما غوښتل شوي چې په هرو دريو مياشتو کې په افغانستان کې د پرمختګونو په اړه راپور ورکړم، وړاندې کيږي.

۲. زما د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر د ۹ نيټې (A/47/647-S/2014/876) د راپور د خپريدو راهيسې، دغه راپور د پام وړ بشري پراختيايي او بشري حقونو د هڅو په شمول، په افغانستان کې د ملګرو فعاليتونو په اړه تازه معلومات برابروي. راپور همدارنګه د افغانستان په تړاو د کليدي سياسي او امنيتي پرمختګونو او د سيمه ييزو او نړيوالو پيښو لنډيز برابروي. په دې ضميمه کې د ۲۰۱۴ کال د مارچ د ۷ نيټې (A / 68/789-S / 2014/163) زما د راپور د خپريدو راهيسې د معيارونو او شاخصونو په اړه د پرمختګ ارزونه شامله ده چې د امنيت شورا د پريکړه ۱۸۶۸ (۲۰۰۹) سره سمون لري.

### دوهم. اړوند پرمختګونه

۳. د ولسمشر محمد اشرف غني او اجرائيه رييس عبدالله عبدالله لخوا د ملي يووالي د حکومت د رامنځ ته کيدو په اړه د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر د ۲۱ د موافقې وروسته، د نورو شيانو تر څنګ، د بهرنيو چارو کورنيو چارو او مالي وزيرانو د نويو وزيرانو په نقش کې خپلې دندې ترسره کړي، پداسې حال کې چې د پاټي ګمارنو په اړه بحثونو دوام درلود. د اصلاحاتو د اجنډا په اړه بحثونه چې د ډسمبر په ۴ د لندن په کنفرانس کې تعيين شوي وو د حکومت او د حکومت د نړيوالو همکارانو ترمنځ دوام وموند. د ملي بوديجې تصويب د ټولنيز - اقتصادي ټيکاو د هڅولو او تروېج لپاره چوکاټ چمتو کړ. د سيمه ييزو بحثونو په اړه زيات ټينګار د سوداګرۍ او امنيتي پرمختګونو په ساحو کې د يو شمير پرمختګونو لامل شوی. د سولې او پخلاينې په اړه د

دوامداره خبرو اترو د پیل لپاره د افغانستان حکومت هڅې چټکې کړې، خو پرمختګ ورو و. د نړیوال امنیت د مرستندویه ځواک ( ایساف) د ماموریت په پای کې چې رهبري یې د شمالي اتلانتیک تړون د سازمان (ناټو) له خوا کیده، افغان ځواکونو ته د امنیت لیږد په رسمي توګه د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر په ۳۱ پای ته ورسید. د امنیتي وضعیت بې ثباتي د کال په جریان کې د ملکي تلفاتو او د وګړو د بې ځایه کیدو په شرایطو کې په پرله پسې توګه د جګړې زیاتیدونکي بشري تلفات منعکس کړي.

**الف. سیاسي پرمختګونه**

۴. د ملي یووالي د حکومت د تاسس بهیر د راپور ورکولو پر موده حاکم و. ولسمشر غني یو شمیر لنډمهاله اقدامات معرفي کړل تر څو د ګمارنو تر نهایي کیدو پورې د حکومتدارۍ په برخه کې دوام یقیني کړي. د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر په ۱، ولسمشر یو فرمان صادر کړ چې والیان او د پولیسو امنیه قوماندانان دې د "سرپرستانو" په ظرفیت کې خپلو دندو ته دوام ورکړي، پداسې حال کې چې ټول برحاله وزیران له دندو لرې او مرستیال وزیران په موقتي توګه دندې پر مخ بوزي. د ډسمبر په ۱۳، ولسمشر د اجرائیه رییس د دندو او واکونه د ټاکلو، د وزیرانو د شورا د ریاست د پر مخ بیولو، د کابینې د پریکړو د تعقیب ولسمشر ته د پالیسۍ او اصالاحاتو د مشورو د برابرولو او د لوړ پوړو چارواکو د ګمارنې او برطرفۍ د وړاندیز کولو په شمول یو فرمان صادر کړ. د ۲۰۱۵ کال د جنوري په ۲۰، ولسمشر یو فرمان صادر کړ چې موخه یې د هغو کمیټو او نهادونو مشخصول و کوم چې نظارت به یې هر یو، ولسمشر د ولسمشر لومړی مرستیال دوهم مرستیال او د اصلاحاتو او ښې حکومتولۍ په اړه د ولسمشر ځانګړی استازی کوي. د راپور ورکولو د مودې په جریان کې ولسمشر غني له یو شمیر ولایتونو څخه لیدنه وکړه ترڅو په خپله وضعیت له نږدې وڅاري او د فراه هرات او کندز د ولایتونو په ګډون په یو شمیر ولایتونو کې د مشرتابه په پوستونو کې بدلون را منځ ته کړي.

۵. د جنوري په ۲۰، ولسمشر غني د ۲۵ کاندید وزیرانو د پوستونو لپاره د ملي شورا ولسي جرګې ته نوماندان او همدارنګه د مرکزي بانک د رییس او د ملي امنیت د ریاست لپاره نوماندان معرفي کړل. د پخوانیو هغو له جملې څخه ۱۳ د ولسمشر لخوا او ۱۲ د اجرائیه رییس لخوا نومول شوي چې له جملې څخه یې درې میرمنې وې. ولسمشر غني مخکې اعلان کړی و چې هیڅ پخواني وزیران یا د پارلمان اوسني غړي به تر غور لاندې نه نیول کیږي پدې معنی چې نوماندان به د یو شمیر نویو سیاسي څیرو څخه متشکیل وي. په ټوله کې نهه نوماندان یا خو له خپلې کاندیداتورۍ څخه تیر شوې او یا د بیاکتنې د پروسې په جریان کې د ولسي جرګې لخوا رد شوي. د جنوري په ۲۸، د ۲ ځای ناستو نوماندانو په ګډون، ۱۹ نوماندان رایې اچونې ته وړاندې شول. په پای کې لاندې نهه ګمارنې: یعنی د ملي امنیت رییس او اته وزیران (د بهرنیو چارو د کورنیو چارو مالیې عامې روغتیا کډوالو او راستنیدونکو کانونو او پټرولیم د کلیو د بیارغونې او پراختیا او حج او اوقافو) تایید شوې. د یواځنۍ ښځینه کاندیدې په شمول، پاته ۱۰ نوماندان رد شوې. د پایلې په توګه سرپرست وزیرانو په ۱۷ نقشونو کې خپلو دندو ته دوام وکړ او یو سرپرست رییس په مرکزي بانک کې په خپله دنده پاته شو.

۶. د پارلماني، د ولسوالیو د شوراګانو او همدارنګه د ټاکنیزو اصلاحاتو لپاره احتمالي نیټه لا هم نه ده ټاکل شوې. د اساسي قانون له مخې پارلماني ټاکنې باید د ۲۰۱۵ کال د جون له ۲۱ نیټې څخه د مخه د ۳۰ څخه تر ۶۰ ورځو په دننه کې ترسره شی. د ولسوالیو د شوراګانو ټاکنې هیڅ وخت نه دي ترسره شوي. د جنوري په ۲۷، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون رییس په عامه توګه د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر پر ۳ د دواړو ټاکنو د ترسره کولو وړاندیز وکړ. د ملي شورا ولسي جرګې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو د شکایتونو د خپلواک کمیسیون د جوړښت دندو او صلاحیتونو په اړه د قانون په تعدیلاتو بحث وکړ، خو د موضوع په اړه یې د خپلې ژمنۍ رخصتي څخه د مخه چې د جنوري پر ۲۸ پیلیږي رایه ور نه کړه. په وړاندیز شویو تعدیلاتو کې د انتخاباتي مدیریت د ارګانونو لپاره د ګمارلو میکانیزم د کمیشنرانو موده او د دارالانشا کلیدي پوستونه د انتخاباتي شکایتونو د خپلواک کمیسیون موده او د دې نهادونو لپاره د حساب ورکونې کربنې شاملې دي. د فبروري په ۵ ولسمشر غني یوه مطبوعاتي اعلامیه خپره کړه او په هغې کې یې د ټاکنیزو اصلاحاتو په اړه خپله ژمنتیا تکرار کړه، همداراز یې دوهم مرستیال محمد سرور دانش ته دنده وسپارله چې د کمیسیون او مدني ټولنې سره د ښه والي لپاره ساحې وپېژني. دوه ورځې وروسته د ولسمشر مرستیال دانش د ټاکنو د مشاهدې او نظارت ډلو ته وویل چې د انتخاباتي اصلاحاتو کمیسیون به د یوې موافقې سره سم ژر را منځ ته شي چې موخه یې د ملي یووالي د حکومت رامنځ ته کول دي.

۷. د اساسي قانون له مخې د ملي شورا د مشرانو جرګه د یوې پر دریمې برخې څخه څوک چې د ولسمشر په واسطه نومول کیږي، یو پر دریمه برخه د ولایتي شوراګانو له خوا د خپلو غړو له منځ څخه او یو پر دریمه برخه د ولسوالیو د شوراګانو د غړو څخه ټاکل کیږي. د جنوري په ۱۰ ولسمشر غني د خوست او ارزګان د ولایتونو په استثنا کومو چې په هغه وخت کې خپل استازي نه وو غوره کړې د هغوي د اړوندو ولایتي شورا ګانو څخه د مشرانو جرګې ۳۲ نویو سناتورانو ته لوړه وکړه. په ورته ورځ د ولایتي شورا د نماینده ګانو څخه چا چې د مشرانو په جرګه کې د ولسوالی د شورا په تشو پوستونو کې په موقتي توګه دنده ترسره کولې وغوښتل تر هغه پورې چې د ولسوالیو د شوراګانو ټاکنې ترسره کیږي څوکۍ خالي کړي. د ولسمشر حامد کرزي د دورې پر مهال مشرانو جرګې ته ټاکل شوي ۳۴ نوماندان په خپل ځای پاتې دي.

۸. د جنوري په ۲۸، د ملي شورا مشرانو جرګې د ولایتي شوراګانو د قانون په اړه چې موخه یې د سیمه ییزې حکومتولۍ څخه د شوراګانو د نظارت د واکونو لرې کول دي، یو تعدیل تصویب کړ. دې ته په غبرګون کې د ۳۴ ولایتي شوراګانو له جملې څخه ۳۲ هغو یې د خپلو دفترونو دروازې وتړلې. ولسمشر له هغه وروسته د ولایتي شورا ګانو له ریسانو سره وکتل او د سیمه ییزې حکومتولي خپلواکې ادارې ته یې دنده وسپارله چې ملي شورا ته نوي تعدیلات وړاندیز کړي تر څو د ولایتي شوراګانو او ځایی چارواکو ترمنځ دوه اړخیزه حساب ورکونه رامنځ ته کړي.

۹. ولسمشر غني د افغانانو په مشرۍ د رسمي پروسې له لارې د ملي پخلاینې د ترلاسه کولو په اړه د پام وړ ټینګار کړی په کومه کې چې د دودیزو جرګو لپاره د نقش وړاندوینه کوي. هغه د افغانستان د سولې له پروسې څخه د ملاتړ په برخه کې د چین د احتمالي رول هرکلی وکړ. په عکس العمل کې د جنوري په ۱۴ د طالبانو په ویب پاڼه په خپره شوې اعلامیه کې ویل شوي چې دغه تحریک "سوله غواړي" خو پدې شرط چې مخکني شرطونه یې و منل شي. پدې کې د بهرنیو پوځي ځواکونو د شتون پای د اسلامي حکومت تاسس او د شریعت د قانون پلي کول شامل دي. د جنوري په ۲۷ طالبانو یو بیان خپور کړ، په هغه کې څرګنده شوې چې بیجینګ ته د دوی د استازو وروستی سفر په دې معنی نه و چې د چین لپاره د منځګړیتوب د نقش غوښتنه وکړي.

۱۰. د سولې د یوې دوامدارې پروسې پر وړاندې د حقونو پر اساس د یوې تګلارې د ترویج په برخه کې، د سولې په اړه د افغانانو ډیالوګ په کابل کې د جنوري په ۱۵ یو ملي کنفرانس جوړ کړ. دغه کنفرانس د خبرو اترو د دوهم پړاو بشپړیدل په ګوته کوي، دا په خپل ذات کې د مدني ټولنې په مشرۍ د سولې یو جامع نوښت دی دا د مدني ټولنې په رهبرۍ یو نوښت دی چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوې (یوناما) په مرسته جوړ چې په تیرو دریو کلونو کې ترسره شوی، په دې کې د شخړې د ځایي لاملونو د پیژندلو او د سولې لپاره د ځایی سړک نقشو د جوړولو په برخه کې ټولټال ۶۰۰۰ افغانانو ګډون کړې وو. د جنوري په ۲۶ د سولې د عالي شورا د دارالانشاء مشر د ۱۵ ولایتونو څخه د سولې د ولایتي کمیټو د غړو سره وکتل تر څو د هغوی په اړوندو ولایتونو کې د سولې د هڅو د ګړندي کولو په لارو چارو خبرې وکړي. د سولې او بیا یو ځای کیدنې د پروګرام ګډ سکرتریت راپور ورکړ چې په۲۰۱۴ کال کې ټولټال ۱۷۱۶ کسان د یاد پروګرام سره یوځای شوي.

**ب. امینت**

۱۱. د امنیتي لیږد لړۍ د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر پر ۳۱ نیټه رسما پای ته ورسیده. د ډسمبر پر ۲۸، په کابل کې، د نړیوال امنیت د مرستندویه ځواک (ایساف) د عملیاتو د پای ته رسیدو په مناسبت په کابل کې یو لړ مراسم ترسره شول. افغان ځواکونو د امنیت لپاره بشپړ مسولیت په غاړه واخیست او د ناټو تر رهبرۍ لاندې د غوځ ملاتړ ماموریت پیل شو. لکه څنګه چې د امنیت شورا په ۲۱۸۹ (۲۰۱۴) پریکړه لیک کې راغلي، د ناټو د غیر جنګي نوی روزنیز مشورتي او د مرستې عملیات به د افغانستان له حکومت سره په نږدې همغږۍ کې ترسره شي او په پیل کې به له کابل او څلورو سیمه ییزو ځایونو یعني کندهار هرات مزارشریف او جلال آباد څخه وشي.

۱۲. په افغانستان کې امنیتي وضعیت ماتیدونکی پاته شوی. ملګرو ملتونو په ټول هیواد کې د ملکي کسانو د کار او فعالیت، خوځښت او خوندیتوب په تړاو په امنیت پورې د اړوند پیښو نظارت کولو ته چې د ملګرو ملتونو لخوا د ورکړل شویو فعالیتونو او پروګرامونو د سپارښې په چارو اغیزه لري، دوام ورکړی. په ۲۰۱۴ کال کې ټولټال ۲۲۰۵۱ پیښې ریکارډ شوې، چې دا د ۲۰۱۳ کال د پیښو څخه نږدې ۱۰ سلنه زیاتي وي. د تیرو ۱۳ کلونو په ترڅ کې د ریکارډ شویو پیښو په حواله، له ۲۰۱۱ کال وروسته،

۲۰۱۴ کال د ریکارډ شویو پیښو په تړاو تر ټولو لوړ دوهم کال و. د دغو پیښو له جملې څخه، ۶۸ سلنه په سویل سویل ختیځ او ختیځو سیمو کې ثبت شوې د ننګرهار ولایت تر ټولو ناکراره چې د پیښو ۱۳سلنه جوړوي. وسله والې شخړې او په لاس جوړ چاودیدونکې توکې د ټولو پیښو ۷۶ سلنه جوړوي چې دا د ۲۰۱۳ کال په پرتله ۱۱ سلنه زیاتوالی ښيي. د ځان وژونکو بریدونو کارول د ټولو ثبت شویو پیښو له ۱سلنې څخه لږ و په داسې حال کې چې په ۲۰۱۴ کې ۱۵۸ بریدونه ثبت شوي چې دا د ۲۰۱۳ په پرتله ۴۷ ډیروالي ښيي؛ د ۲۰۱۳کال د ۱۸ پرتله په کابل کې ۳۱ وو. افغان ملي امنیتي ځواکونو یو لړ متقابل اقدامونه ترسره کړل تر څو د دولت ضد عناصرو هغه هڅې چې موخه یې د یو شمیر کلیدي ولسوالیو کنټرول او د ۲۰۱۴ کال په اپریل او جون میاشتو کې د ترسره کیدونکو ټاکنو په جدي توګه اخلالول و وننګوي. که څه هم چې د ټولو ثبت شویو امنیتي پیښو په عمومي شمیر کې زیاتوالی د یاغي ډلو له خوا د افغان امنیتي ځواکونو لپاره لویه ننګونه په ګوته کوي. د دولت ضد عناصرو او افغان ځواکونو ترمنځ د پام وړ تلفاتو نا تایید شوي راپورونه د جګړې د لیکو څخه د تیښتې لوړ ماهیت په ګوته کوي. دا په ځانګړي توګه په هغو سیمو کې، د بیلګې په توګه، په بدخشان کندز هلمند ننګرهار کونړ او نورستان ولایتونو کې کوم چې همدارنګ د ناقانونه اقتصادي فعالیتونو سره په ځانګړي توګه د مخدره توکو د غیرقانوني تولید او قاچاق سره نږدې تړاو لري، څرګند دی.

۱۳. د ۲۰۱۴ کال د نومبر د ۱۶ او د ۲۰۱۵ کال د فبروري د ۱۵ تر منځ، د ملګرو ملتونو له خوا په ټول هیواد کې ټولټال ۵۰۷۵ امنیتي پیښې ریکارډ شوي. دا د ۲۰۱۳/۲۰۱۴ د ورته مودې په پرتله ۶. ۱۰ سلنه او د ۲۰۱۳/۲۰۱۲ د ورته مودې په پرتله ۲. ۳۳ سلنه زیاتوالی ښيي. د لوړې کچې د پرله پسې امنیتي پیښې یوه برخه د دولت ضد عناصرو د فعالیتونو زیاتوالي ته منسوب کیږي په ځانګړي توګه د ۲۰۱۴ کال د نومبر او ډسمبر د میاشتو په جریان کې. د ۲۰۰۱ کال راهیسې د هر کال د ورته مودې په پرتله، د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر او د ۲۰۱۵ کال د جنوري میاشتې هم د یو زیات شمیر امنیتي پیښو شاهداني پاتې شوي. دا مسله تر یوې اندازې د نسبتا هغه معتدل ژمي سره تړاو لري چې د شخړې ټولو خواو ته یې د دې فرصت ورکړ تر څو عملیاتو ته دوام ورکړي. افغان امنیتي ځواکونو د ژمي په اوږدو کې په کندز او هلمند کې د یاغیانو فعالیتونو ته د غبرګون په موخه پراخ تصفیوي عملیات پیل کړل. افغان امنیتي ځواکونو همدارنګ په فاریاب هرات کندهار ننګرهار او کونړ ولایتونو کې د یاغي ډلو د مخنیوي لپاره عملیاتو ته دوام ورکړ تر څو د هغو یاغي ډلو مخه ونیسي چې د پسرلني عملیاتو تر پیلیدو پورې د وتلو پر ځای د ژمي په اوږدو کې د سیمو د کنټرول په موخه سیالیو ته دوام ورکوي. د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر او نومبر په میاشتو کې په کابل کې د یاغیانو د فعالیتونو د زیاتوالي په تعقیب، د نړیوالو پوځي ځواکونو په ملاتړ افغان امنیتي ځواکونو په پلازمینه کابل کې د یاغیانو له خوا د لوړې کچې د عملیاتو په کمولو کې مرسته کړې چې په پایله کې یې د اکتوبر او نومبر په میاشتو کې د ۱۰ ځانمرګي بریدونه څخه د ډسمبر او جنوري په میاشتو کې ۵ هغو ته د ځانمرګي بریدونو کچه راټیټه کړې. په کابل کې د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو د بریدونو لپاره هم کموالی ریکارډ شوی، چې دا په اکتوبر او نومبر میاشتو کې له ۱۸ څخه په ډسمبر کې ۵ او په جنوري کې ۲ هغو ته را ټیټ شوی.

۱۴. د راپور ورکولو د مودې په جریان کې، په ټول هیواد کې د کارتونونو د خپرولو په غبرګون کې چې اسلام ته په کې سپکاوی شوی و، له ۵۰ څخه ډیر لاریونونه، چې شاوخوا ټول یې سوله ییز و ترسره شول. د تیرو تمایلاتو سره په مطابقت کې د ۸. ۴۶ سلنې په درلودلو سره وسله والې نښتې د ډیری امنیتي پیښو لامل شوې، چې ور پسې په ۹. ۳۰ سلنه په لاس جوړ چاودیدونکې توکې راځي. هدفي وژنو په لوړه کچه دوام درلود. د ۲۰۱۴ کال د نومبر د ۱۶ څخه د ۲۰۱۵ کال د فبروري تر ۱۵ هغې پورې، ۱۹۱ قتلونه او ۴۰ عمدي قتلونه راپور شوي چې ۴. ۲۶ سلنه وړاندې کوي او په ترتیب سره د ۲۰۱۳/۲۰۱۴ د ورته مودې په پرتله ۰. ۲۹ سلنه زیاتوالی ښيي. همدارنګ د ځانمرګي بریدونو په برخه کې هم زیاتوالی مستند شوی: د ۲۰۱۳/۲۰۱۴ کال په ورته درېو میاشتو کې د ۳۵ هغو په پرتله، ټولټال ۴۰ ځانمرګي بریدونه. د جنوري په ۲۹، د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو یوې آلې د لغمان په ولایت کې د سیمه ییزو پولیسو یو قوماندان ووژه، د یاد قوماندان د جنازې په مراسمو کې بل ځانمرګی برید ترسره شو چې په پایله کې یې د افغان امنیتي ځواکونو د یو شمیر لوړ پوړو منسوبینو او ۳۴ راپور شویو تلفاتو په شمول، په هماغه ورځ ۱۵ تنه ووژل شول. د فبروري په ۱۲، د سولې د عالي شورا یو غړی، حاجي شرین آغا په کندهار کې په یوه جومات کې د عبادت کولو پر مهال د نا پېژاندو وسله والو له خوا ووژل شو.

۱۵.	د راپور ورکولو د موده په جریان کې، په رسنیو کې په عراق او شام کې د اسلامي دولت سره د تړلو ډلو د شتون په اړه ګنګوسې موجودې وې. د افغان او پاکستاني طالبانو یو شمیر قوماندانانو تایید کړي چې له داعش سره یې بیعت کړی او د راپورونو له مخې یو شمیر قوماندانان له داعش څخه د تمویل غوښتنه کوي او له داعش سره په همکاري کولو غور کوي. په افغانستان کې د داعش د پراخ یا سیستماتیک ملاتړ یا ځای ځایګي په اړه کومه نښه نشانه شتون نه لري. د افغانستان حکومت د داعش ګواښ ته په جدیت سره اشاره وکړه او اراده لري تر څو په هیواد کې د دې ډلې د پرمختګ خنډ شي. د یاغي ډلو له خوا اصلي امنیتي ننګونې افغان طالبان او نور تجربه لرونکې یاغي سازمانونه  په تیره بیا او په ځانګړې توګه، د هیواد په ختیځ کې د حقاني شبکه  د ګلبدین د اسلامي ګوند وسله واله ډله  د تحریک طالبان پاکستان او د ازبکستان اسلامي غورځنګ، دي.

۱۶.	د راپور ورکولو د مودې په جریان کې، ۲۵ ثبت شوې پېښې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د ملګرو ملتونو پر وړاندې وې. د پیښو زیاتره برخه د ډارونې د شپږو قضیو او د تښتونې د یوې قضیې په شمول، د داخلي کارکونکو پر وړاندې رهبري شوي جنايي عملونه وو. په خوست  لغمان او جلال آباد ولایتونو کې په ترتیب سره د ډسمبر په ۳ او ۱۷ او د جنوري په ۱۴ او په هرات کې د جنوري په ۱۱، ۱۸ او ۲۹ او د فبروري پر دوهمه د ملګرو ملتونو د سړک له لارې اووه ماموریتونه تر برید لاندې راغلي. په هیڅ یوه پیښه کې د ملګرو ملتونو تلفات نه دي راپور شوي.

## ج. سیمه ییزه همکاري

۱۷.	نوې اداره په پرله پسې توګه د سیمه ییزې ښکیلتیا د ودې لپاره په فعاله توګه کار ته دوام ورکوي. دا ښکیلتیا د ګاونډیو هیوادونو څخه او ګاونډیو هیوادونو ته د سفرونو او د همکاریو د تړونو د رامنځ ته کولو په برخه کې څرګنده شوې  د بیلګې په توګه هغه تړون چې د جنوري په نیمایي کې متحده عربي اماراتو ته د جنوري د میاشتې په جریان کې کله چې د دواړو هیوادونو ترمنځ د اوږد مهاله ستراتیژیکو همکاریو تړون لاسلیک شو، د ولسمشر غني د سفر پر مهال لاسلیک شو. د ۲۰۱۵ کال د جنوري په ۲۰، د ایران د اسلامي جمهوریت د بهرنیو چارو وزیر د کابل څخه لیدنه وکړه. د نورو موضوعاتو تر څنګ، افغان مشرتابه پر امنیتي همکاریو خبرې اترې وکړې او د دوه اړخیزو ستراتیژیکو همکاریو د تړون وړاندیز یې وکړ. دغه لیدنه د ۲۰۱۵ کال د ډسمبر په ۱۵ په تهران کې د هغه هڅې څخه د مخه وه چیرې چې د ایران د پوله ساتو ځواکونو قوماندان او د هغه افغان سیال یو تفاهم چې موخه یې د تروریزم او مخدره توکو د قاچاق پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د همکارۍ پیاوړې کول و، لاسلیک کړ. د جنوري په ورستیو کې ترکمنستان ته د ولسمشر غني د سفر پر مهال، هغه د ترکمنستان - افغانستان - پاکستان - هند د ګازو د پایپ لاین او د افغانستان ترکمنستان - آذربایجان - جورجیا - ترکۍ "د لاجوردو د کانو" د ترانسپورت د دهلیز د جوړولو په اړه د ولسمشر قربان ګولي بردیمحمدوف سره خبرې وکړې او د بریښنا د انرژۍ په برخه کې د همکاریو د لا پراختیا په اړه د تفاهم یو یادداښت، د هغوي د بهرنیو چارو د اړوندو وزارتونو تر منځ د همکاري یو پروګرام او د بریښنا د رسولو د یو شمیر قراردادونو په اړه ضمیمه یې تړونونه لاسلیک کړل.

۱۸.	افغانستان او پاکستان د امنیتي همکاریو د ښه کولو لپاره د هڅو زیاتوالي ته دوام ورکوي. د ډسمبر په ۱۷  د پاکستان د پوځ لوی درستیز د امنیتي همغږي په اړه د بحث لپاره کابل ته راغی. په دې پسې د ډسمبر په ۲۳ په پاکستان کې د افغانستان د پوځ د لوی درستیز  د ایساف د قوماندان او د پاکستان د پوځ د لوی درستیز درې اړخیزه ناسته وشوه. د ۲۰۱۵ کال د جنوري په ۱۱، د پاکستان د استخباراتي ادارې ISI مشر په کابل کې د ولسمشر غني سره ولیدل. په پایلو کې د تورخم او سپین بولدک د تګ راتګ په پوستو کې د ګډې پولې د همغږۍ د مرکزونو د بیا خلاصولو او د ګډې پولې په اوږدو کې د تروریزم پر وړاندې د همغږي د عملیاتو لپاره تړونونه شامل وو. همدارنګه د قانون جوړوونکو تر منځ تبادلې صورت مونده، افغان هیئت د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر په ۳۱ په اسلام اباد کې د افغانستان-پاکستان په پارلماني امنیتي خبرو اترو کې ګډون وکړ. بیا  د ۲۰۱۵ کال د جنوري په ۹  د پاکستان د سیاسي ګوندونو د استازو یوه هییت په کابل کې له لوړ پوړو چارواکو سره د تروریزم پر ضد د همکارۍ او سرحدي امنیت په اړه خبرې وکړې. په اقتصادي ډګر کې، د جنوري په لومړیو کې د افغانستان-پاکستان د ترانزیت سوداګرې د همغږي ادارې په اسلام اباد کې غونډه وکړه څو د افغانستان-پاکستان د ترانزیت سوداګرې د تړون د وضعیت پر سر له سره کتنه وکړي او د پاکستان - افغانستان - تاجکستان د درې اړخیزه ترانزیتي سوداګریز د تړون د رامنځ ته کولو لپاره یې پر پراختیا او غځولو بحث وکړ.

۱۹.  د فبرورۍ په ۹ د چین - افغانستان - پاکستان د درې اړخیزو ستراتیژیکو خبرو اترو لومړۍ پړاو په کابل کې ترسره شو. دواړو خواو په سیمه کې د سولې او امنیت په وضعیت او همدارنګه یې د تروریزم پر ضد د مبارزې او امنیت په برخو کې د درې اړخیزو همکاریو د اهمیت پر اړتیا خبرې وکړې. چین او پاکستان دواړو ژمنه کړې چې د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د سولې د پروسې ملاتړ کوي. د څو اړخیزه ښکېلتیا په ملاتړ اجرائیه رییس عبدالله د ۲۰۱۴ کال د اګست په ۱۴ او ۱۵ په استانه کې د شانګهای د همکاریو د سازمان د دولت د مشرانو د شورا په ۱۳ غونډه کې د افغانستان استازیتوب وکړ. د غونډې ګډې اعلامې د نظارت کوونکو هیوادونو په ګډون د سوداګرۍ ترانسپورت او انرژۍ په برخو کې د سیمه ایزې همکارۍ پر اهمیت ټینګار وکړ. د ۲۰۱۵ کال د مۍ په ۲۹، کابل د آسیا زړه د استانبول د بهیر د تروریزم پر وړاندې د اعتماد د رامنځ ته کولو کړنه د "سیمه ییز افراطیت لاملونو او حل لارو" تر عنوان لاندې د یوه سیمینار کوربه و.

۲۰.  د جنورۍ په ۲۹ د افغانستان په اړه د تماس نړیوالې ډلې په ابوظبي کې غونډه وکړه ترڅو په افغانستان کې په اقتصادي، امنیتي او سیاسي پیښو غور وکړي. د سیمه ییزې ښکیلتیا د دوام د یوې برخې په توګه د فبرورۍ له ۸ څخه تر ۱۰ پورې زما ځانګړي استازي له ازبکستان څخه لیدنه وکړه او په دې ترڅ کې یې له لوړ پوړو ازبک چارواکو سره خبرې وکړې چې پکې د مخدره توکو پر ضد سیمه ییز اړخونه او د سیمه ییز امنیت او ثبات پراخ مسایل شامل دي.

**دریم. بشري حقونه**

۲۱.  د ۲۰۱۵ کال د فبرورۍ په ۱۸، یوناما په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د ۲۰۱۴ کال لپاره خپل کلنۍ راپور خپور کړ. راپور په ۲۰۱۴ کال کې ټولټال ۱۰۵۴۸ ملکي تلفات (۳۶۹۹ مړینې او ۶۸۴۹ ټپي کیدنې) ثبت کړي، دا له هغه راهیسې چې کله یوناما په ۲۰۰۹ کال کې په سیستیماتیک راپور کولو پیل وکړ تر ټولو لوړ ارقام دي چې د ۲۰۱۳ کال په پرتله د ملکي تلفاتو په برخه کې ۲۲ سلنه زیاتوالی ښيي. نږدې ۷۲ سلنه ملکي تلفات دولت ضد عناصرو ۱۴ سلنه دولت پلوه وسله والو ځواکونو (۱۲ سلنه افغان امنیتي ځواکونو او دوه سلنه نړیوالو پوځي ځواکونو) او ۱۰ سلنه د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ډزو تبادلې ته منسوب شوي دي. د جګړې څخه پاته شونې چاودیدونکي توکي د ملکي تلفاتو (۴۲۲ تلفات، ۱۲۴ مړینې او ۲۸۹ ټپي کیدنې) ۳ سلنه جوړوي چې دا د ۲۰۱۳ کال په پرتله ۲۰ سلنه زیاتوالی ښيي. د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ ځمکنۍ نښتې د ملکي تلفاتو مخکښه لامل پاته شوی چې د ټولټال ۳۶۰۵ ملکي تلفاتو (۱۰۹۲ مړینو او ۲۵۱۳ ټپي کیدنو) لامل شوي چې ور پسې په لاس جوړ چاودیدونکي توکي راځي چې د ټولټال ۲۹۷۸ ملکي تلفاتو (۹۲۵ مړینو او ۲۰۵۳ ټپي کیدنو) لامل شوي.

۲۲.  د ۲۰۱۴ کال د نومبر د ۱۶ او د ۲۰۱۵ کال د فبرورۍ د ۱۴ تر منځ، یوناما ټولټال ۲۰۶۸ ملکي تلفات (۷۳۰ مړینې او ۱۳۳۸ ټپي کیدنې) ثبت کړي، دا په ۲۰۱۴/۲۰۱۳ کې د ورته مودې په پرتله ۲۵ سلنه زیاتوالی ښيي. د ملکي تلفاتو نږدې ۷۱ سلنه دولت ضد عناصرو، ۱۶ سلنه دولت پلوه ځواکونو (۱۵ سلنه افغان ملي امنیتي ځواکونو او یوه سلنه نړیوالو پوځي ځواکونو) او ۷ سلنه د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ډزو تبادلې ته منسوب شوي. د ملکي تلفاتو نږدې ۵ سلنه چې زیاتره یې د جګړې د پاته شونو چاودیدونکو توکو له امله را منځ ته شوي چې کومې خوا ته نه شي منسوبیدلای. ځمکنۍ نښتې په پرله پسې توګه د ملکي تلفاتو مخکښه لامل پاته شوی چې په پایله کې یې ټولټال ۵۵۶ ملکي تلفات (۱۷۴ مړینې او ۳۸۲ ټپي کیدنې) را منځ ته شوي، ورپسې په لاس جوړ چاودیدونکي توکي راځي. د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر په ۱۳، دولت ضد عناصرو د هلمند ولایت په واشیر ولسوالۍ کې ۱۱ ماین پاکان ووژل او ۶ نور یې ټپیان کړل. د دولت پلوه ځواکونو له خوا په را منځ ته شویو ملکي تلفاتو کې د هلمند ولایت په سنګین ولسوالۍ کې د ډسمبر د ۳۱ نیټې هغه پیښه شامله ده په کومه کې چې افغان ملي پوځ د خپلې پوستې څخه د هاوان درې مرمۍ وتوغولې او په یوه ملکي کور یې چیرې چې د واده مراسم ترسره کیدل اصابت وکړ چې په نتیجه کې یې ۸۳ ملکي تلفات (۲۹ مړینې او ۵۴ ټپي کیدنې) را منځ ته شوه.

۲۳.  د ماشوانو او وسله والې شخړې په اړه د نظارت او راپور ورکولو په هکله د ملګرو ملتونو په مشرۍ د هیواد د کچې کاري ځواک د ۲۰۱۴ کال د نومبر د ۱۶ او د ۲۰۱۵ کال د فبرورۍ د ۱۴ تر منځ په ۲۰۴ پیښو کې د ماشومانو ټولټال ۵۱۴ تلفات (۱۵۵ مړینې او ۳۵۹ ټپي کیدنې) مستند کړي. د ماشومانو زیاتره تلفات د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ (۱۸۵ تلفات) د ځمکنو نښتو پر مهال را منځ ته شوي، ور پسې د جګړې څخه پاته شونې چاودیدونکي توکي (۹۹ تلفات)

او د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو بریدونه (۹۵ تلفات) راځي. ماشومان په ځانګړي توګه د هیواد په سویلي سیمه کې زیانمونکي وو، دا سیمه د ماشومانو د ټولو راپور شویو تلفاتو د ۲۸ سلنې شاهده پاته شوې. دولت ضد عناصر د ماشومانو د ټولو ملکي تلفاتو د ۵۱ سلنې مسول وو په داسې حال کې چې دولت پلوه ځواکونه د ۲۴ سلنې مسول وو او د نا منسوب شویو پیښو په پایله کې ۲۵ سلنه تلفات را منځ ته شوي.

۲۴. حکومت د "مطابقت په لور د لار نقشې" په پلي کولو کې چې یو ۱۵ ماده یې هدفي پلان دی او موخه یې د ۲۰۱۱ کال د کم عمره ماشومانو د استخدام د مخنیوي لپاره د عمل د پلان پلي کول ګړندي کوي، د پام وړ پرمختګ کړی.

د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر په ۳۱، د ملي شورا مشرانو جرګې د ولسمشر د فرمان مسوده تصویب کړه چې د افغان امنیتي ځواکونو لخوا د کم عمره ماشومانو ګمارنې جرم ګڼي کوم چې ولسمشر غني د ۲۰۱۵ کال د فبروري په ۲ نیټه تصویب کړه. د قانون جوړوونکو او د عدلیې د وزارت له استازو سره د ملګرو ملتونو مدافعې د فرمان په تصویب کې مرسته وکړه.

۲۵. د جنډر پر بنسټ د تاوتریخوالي د مخنیوي په خاطر د نړیوال فعالیت د ۱۶ ورځني کلني کمپاین د په نښه کولو لپاره، چې د نومبر د ۲۵ څخه د ډسمبر تر ۱۰ پورې ترسره شو، ملګرو ملتونو په ټول هیواد کې د لاسرسي د فعالیتونو سره مرسته کړې، بحثونه، راډیویي پروګرامونه او ورکشاپونه یې دایر کړي کوم چې د افغان ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي د ځوابولو د بیړنۍ اړتیا په اړه عامه پوهاوی لوړوي. یوناما په ۱۳ ولایتونو کې یو شمیر غونډې جوړې کړې په کومو کې چې د ۱۹۰ ښځو په شمول د ۴۰۰ څخه زیاتو افغانانو ګډون کړی وو، چې موخه یې د حقوقي تضمینونو په اړه د پوهاوي لوړول دي کوم چې ښځې د تاوتریخوالي څخه ژغوري. د کمپاین د په لار اچولو سره په ورته وخت کې د نومبر په ۲۵ حکومت د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون د پلي کیدو د وضعیت په اړه خپل دوهم راپور خپور کړ. د راپور موندنې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د ټولټال ۵۴۰۶ قضیو پر بنسټ چې د حکومت له خوا څخه ثبت شوې ولاړې دی، د پخواني راپور سره په پرتله د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د قضیو په ټولیز ثبت شوي شمیر کې ۲۰ سلنه زیاتوالي مشاهده شوی. د ټولټال ۵۴۰۶ قضیو له جملې څخه، ۳۷۱۵ هغه د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د قانون پر بنسټ ثبت شوې، ضرب او جرح د ښځو پر وړاندې د خشونت تر ټولو پراخ ثبت شوي عملونه دي. راپور د وژنې او کم عمره ودونو په ثبت شویو قضیو کې د پام وړ زیاتوالي یادونه کړې او منځګړیتوب د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د قضیو د حل کولو تر ټولو عام میتود پاتې شوی.

۲۶. د ژړکیو او بندیانو د مجازاتو د تخفیف او ښښې په اړه د ۲۰۱۵ کال د جنوري د ۲ نیټې د ولسمشر د ۳۹ ګڼې فرمان په تعقیب حکومت لږ تر لږه ۱۴۴ ښځې او نجونې چې د اخلاقي جرمونو په تور بندیانې شوې وې خوشې کړې. ملګرو ملتونو په مکرر ډول د ښځو د نیولو او تعقیب د غیرقانوني کړنو په اړه اندیښنې راپورته کړې چې خپل کورونه د اخلاقي جرمونو په خاطر پریږدي هغوي په زنا کولو محکوموي کوم چې د افغانستان د قانون سره سم جرم نه دی.

۲۷. د ۲۰۱۵ کال د فبروري په ۲۵، یوناما په افغان محابسو او توقیف خونو کې د شکنجې د اړوندو توقیف شویو سره د چلند په هکله خپل دریم مهم راپور خپور کړ. راپور وموندله چې په ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کلونو کې د حکومت د هڅو سربیره، چې موخه یې د ملي امنیت د ریاست، د افغان ملي پولیسو او افغان ملي پوځ د چارواکو لخوا، په ځانګړي توګه د ۲۰۱۳ کال د فبروري د میاشتې د ولسمشر د فرمان په پلي کیدو سره، په شخړې پورې د تړلو توقیفیانو سره ناوړه چلند او شکنجې ته رسیدګي وه، راپور وموندله چې د بندیانو سره ناوړه چلند او د هغوي شکنجه کول لا هم دوام لري. د یوناما لخوا د ۲۰۱۳ کال د جنوري د راپور شویو موندنو په پرتله، د مرکه شویو توقیفیانو په منځ کې د ناوړه چلند او شکنجې پیښې ۱۴ سلنه کمې شوي د ۲۰۱۵ کال د فبروري راپور ټینګار کوي چې د افغان چارواکو لخوا د افغانستان او نړیوالو قوانینو لاندې د دولت د مکلفیتونه سره په سمون کې د شکنجې د پای ته رسولو او مخنیوي لپاره لا ډیرو هڅو ته اړتیا لیدله کیږي. راپور د شکنجې د مرتکبینو لپاره د حساب ورکونې په اړه پراخ نه شتون په ګوته کړی او مشاهده کړې یې ده چې د شکنجې دوامداره معافیت د شکنجې د دوام لپاره فرصت برابروي. یوناما په حکومت غږ وکړ چې د شکنجې په اړه د مخنیوي یو ملي میکانیزم را منځ ته کړي چې په دې کې به خپلواک تفتیش کوونکي، ملکي نظارت او د تعقیبي او انظباطی اقدامونو لپاره د مرتکیبینو ارجاع شامله وي. د راپور په غبرګون کې، دولت د شکنجې د له منځه وړلو لپاره د عمل د ملي پلان اعلان کړ چې په کې مقرراتي اصلاحات د مخنیوي تدابیر او د روزنې جامع پروګرامونه شامل دي.

## څلورم. د کابل د بهیر تطبیق او د پراختیايي مرستې همغږي

۲۸. د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر پر ۴، افغانستان، انګلستان او شمالي آیرلینډ په ګډه د افغانستان په اړه د لندن د کنفرانس مشري وکړه په یاد کنفرانس کې شریکباڼو هیوادونو نړیوالو مالي ادارو او څو اړخیزو او غیر دولتي سازمانونو د "بدلون په لسیزه" کې د امنیت او ټیکاو په لور د هیواد د پرمختګ څخه ملاتړ وکړ، خپلې ژمنې یې نوې کړې او نوې اداري خپل اصلاحي پلانونه وړاندې کړل. د کنفرانس ګډونوالو د اداري فساد حکومتدارۍ او د بشري حقونو اندیښنو ته د رسیدګۍ لپاره د اصلاح د پلان هرکلی وکړ او موافقه وشوه چې په دې اساس به د توکیو د دوه اړخیزې حساب ورکونې چوکاټ چې تمه کیږي د ۲۰۱۵ کال په وروستیو کې دایر شي د لوړ پوړو چارواکو په ناسته کې تازه شي. په دې حواله، دولت د هغو لومړیتوبونو د پلي کولو لپاره چې د کنفرانس په سند کې ښودل شوي د لومړیتوبونو د پلي کولو لپاره د عمل یو پلان چمتو کوي.

۲۹. د افغانستان په اړه د لندن په کنفرانس کې ژمنې ترسره شوي تر څو د محدودې اقتصادي ودې په زمینه کې په بهرني ملاتړ د افغانستان اتکا را کمه کړي. په کنفرانس کې، نړیوال بانک راپور ورکړ چې اقتصادي وده له ۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۱۲ پورې د اوسطې کلنۍ کچې ۹.۴ سلنې څخه په چټکۍ سره را کمه شوې او په ۲۰۱۳ کې ۳.۷ سلنې او په ۲۰۱۴ کې ۱.۵ سلنې ته راټیټه شوې. اقتصادي سستیا د دولت د عوایدو په برخه کې د عمومي کمښت سره تړاو درلود عملیات یې محدودیت کړل او په بل القوه ډول یې راتلونکې مالي تشې تشدید کړې او داسې اټکل کیږي چې د بدلون په لسیزه کې به هم شتون ولري. د پیسو نړیوال صندوق د بانکدارۍ د سکټور په شمول د اصلاحاتو هڅولو ته دوام ورکوي ترڅو د سوداګرۍ او راکړې ورکړې د ترویج او هڅوني لپاره د هیواد لرلیدونه زیات کړي کوم چې د نوې اداري لپاره لومړیتوبونه دي. د هغو ننګونو سربیره، حکومت د ۱۳۹۳ (۲۰۱۴) مالي کال د مثبت نغدي توازن سره پای ته ورساوه د دولت لخوا د مالي تشې د ډکولو/بندولو لپاره د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر د میاشتې د غوښتنې په تعقیب، مالیې وزارت دا کړنه د تمویل کونکو مرستو ته منسوب کړه. د پیسو له نړیوال صندوق سره د خبرو اترو په تعقیب حکومت د ۱۳۹۴ (۲۰۱۵) مالي کال د بودیجې خپله لومړنۍ مسوده له سره بیا کتلې چې پکې د عوایدو د اټکلونو کمول او تعدیلونه هم شامل و.د ملي شورا ولسي جرګې دغه سند د ۲۰۱۵ کال د جنوري په ۲۸ تصویب کړ. تصویب شوې بودیجه دولت ته د دې اجازه ورکوي تر څو د دولت له اړخه تمویل شوې پراختیايي پروژې دوام وموږي خو د ۲۰۱۵ لپاره یې نوي اختیاري نوښتونه ندي تصویب کړي. په پایله کې د مرستندویانو ځینې مرستې کومې چې د دولت له خوا د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر د میاشتې د غوښتنې په غبرګون کې ترسره شوې، هغه مرستې احتوا کوي کوم چې پخوا د پراختیايي نوښتونو لپاره په بودیجه کې په نظر کې نیول شوې وې. د امنیتي لګښتونو په شمول، د تیر کال په پرتله د سږ کال په بودیجه کې د عملیاتي لګښتونو زیاتوالي په نظر کې نیول شوی.

۳۰. حکومت په پرله پسې توګه هغو هڅو ته لومړیتوب ورکوي چې موخه یې د کابل بانک د سقوط د تعقیبي چارو په شمول چې هدف یې د بانک د شتمنیو بیرته ترلاسه کول دي اداري فساد ته رسیدګي وکړي، او د فساد پر وړاندې د ادارو په دننه کې د کار ویش روښانه کړي. د فساد پر وړاندې د بهتر شویو فعالیتونو د ملاتړ لپاره، حکومت د اداري فساد سره د مبارزې په مهمو دولتي ادارو، د بیلګې په توګه، د نظارت په عالي اداره د تفتیش په عالي اداره او د لوی څارنوال په دفتر کې د موازي دندو د له منځه وړلو او د څارنې او نظارت د مسؤلیتونو څخه د پالسي د ملاتړ دندې بیلې کړې، اداري حکم صادر کړ. د دې سربیره، په دولتي ادارو کې د دوهمې اداري له خوا د فساد پر وړاندې د څارنې د تدبیرونو په شمول، دولت د نظارت او ارزونې د ګډې خپلواکې کمیټې د ارزونې رول ته دوام ورکړ. د راپور ورکولو د مودې په جریان کې، حکومت د عوایدو د راغونډولو د بهیر د موثریت او اغیزمنتوب د ښه کولو په هدف او په سیستم کې د فساد د کمولو لپاره په ګمرکونو او د عوایدو په ریاستونو کې نوي اصلاحي پروسې پیل کړې. افغانستان همدارنګه د فساد پر وړاندې د ملګرو ملتونو د کنوانسیون د پلي کولو د بیاکتنې د پروسې له لارې چې د نظارت عالي دفتر یې مشري کوي، خپل پرمختګ ته ادامه ورکوي.

۳۱. نوی حکومت له مدني ټولنې سره د خپل مشارکت پیاوړتیا ته لومړیتوب ورکړی دی. په دې زمینه کې مدني ټولنې د افغانستان په اړه د لندن د کنفرانس راهیسې د ملي پراختیا د مسلو په اړه د حکومت او کلیدي شریکباڼو سره د لا اغیزمن کار کولو په برخه کې ښکیلتیا ته دوام ورکوي. د مدني ټولنې لپاره افغان اداره د ۲۰۱۵ کال د جنوري په نیمايي کې جوړه شوه څو د افغانستان د مدني ټولنې د سازمانونو تصدیق وکړي کومو چې د ظرفیتونو د لوړولو معیاري اړینې روزنې ترلاسه کړې کوم چې د دوی په کار کې په نړیواله کچه د منل شویو معیارونو او سیمه ییزو مناسبو ارزښتونو او اصولو څخه پیروي کوي.

۳۲. د لندن په کنفرانس کې افغانستان په قضايي ارګانونو باندې د خلکو د عامه باور را منځ ته کول او د قانون حاکمیت په خپلو لومړیتوب لرونکو برخو کې شامل کړل. د سترې محکمې قاضي القضات راشد رشید د ډاډ د حاصلولو په خاطر چې ټول کارکونکي واجد شرایط او وړ دي د ټولو قضايي کارکونکو د اعتبار لیکونو د یوې جامع بیاکتنې په شمول، د اصلاحاتو لپاره د حکومت د ژمنتیا د پیاوړي کولو لپاره اقدامات پیل کړي. سترې محکمې لکه څنګه چې اساسي قانون غوښتنه کوي، همدارنګه د وزیرانو لپاره یوه ځانګړې محکمه جوړه کړې، ترڅو د فساد او مالي جرمونو لپاره د اوو پخوانیو وزیرانو تورونه کوم چې د لوی څارنوالی د دفتر لخوا وړاندې شوي، وڅیړي.

۳۳. د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر پر نهمه، د کورنیو چارو وزارت د خپل ابتدايي ازمايښتي پړاو په تعقیب د ښځینه پولیسو د شوراګانو رسمي تاسیس منظور کړ. د شوراګانو لپاره د چلند د اصولو لایحه د ملګرو ملتونو په تخنیکي ملاتړ د وزارت د جنډر، بشري حقونو او ماشومانو د ریاست لخوا جوړه شوه. د دې لایحې د تصویب په تعقیب د اتو نویو شوراګانو په جوړولو سره د هیواد په کچه د نوښت پراخیدل پیل شول چې دا نوښت اوس په ۱۷ ولایتونو کې رامنځ ته شوی. د دې سربیره، د یاد وزارت د لس کلن لید سره په سمون کې د ټولنې پر بنسټ د پولیسو د فعالیتونو د ترویج چارو دوام درلود. د افغان ملي پولیسو او ټولنو تر منځ رسمي خبري اترې چې ملاتړ یې د ملګرو ملتونو له خوا کیږي د هغو تړونونو را منځ ته کیدو ته لار هواره کړه چې د پنځو ولایتونو او ۱۹ ولسوالیو په کچه د پولیسو او د ټولنې د استازو له خوا د تړونونو لاسلیک کیدو ته لار هواره کړي څو د ټولنې پر بنسټ د پولیسو روشوونه پلي کړي.

۳۴. د ۲۰۱۵ کال د جنوري په ۱۳، د احصايې مرکزي ادارې د کابل ولایت لپاره د لومړنی ټولنیزې ډیموګرافیکي/نفوسو او اقتصادي سروې د پایلو په اړه یو راپور خپور کړ. دغه سروې د ملګرو ملتونو په تخنیکي ملاتړ ترسره شوې او ټولو ولایتونو ته غځول کیږي تر څو د وګړو او ټولنیز اقتصاد په اړه لا اعتباري ډیټا برابره ترڅو د ټول هیواد په کچه د سرشمیرنې سربیره د پالیسی او پلان جوړونې د فعالیتونو لارښونه وکړي.

۳۵. د جنوري پر ۱۸، د ځوانانو چارو وزارت د ملګرو ملتونو سره په ګډه د افغانستان لپاره د ځوانانو لومړی ملي پالیسې پیل کړه کومه چې د ملګرو ملتونو په ملاتړ رامنځ ته شوی. مخکې له دې، د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر پر ۹، "د افغانستان د ځوانانو د وضعیت په اړه راپور" د ځوانانو د چارو د وزارت لخوا پیل شو. د دې لپاره چې هیواد د خپل مخ پر ودې نفوس څخه ګټه پورته کړي، دغه راپور د هیواد د ځوانانو د نفوسو په لوړو ارقامو او د پانګونې لپاره په ستراتیژیکو سیمو تمرکز کړی.

۳۶. د راپور ورکولو د مودې په جریان کې، د ملګرو ملتونو د هیواد د کچې ټیم د ملګرو ملتونو د پراختیايي مرستې د چوکاټ ۲۰۱۵-۲۰۱۹ د همغږۍ او اغیزمنتیا د پلي کولو او د "ملګرو ملتونو په ګډه کار کولو" د کړنلارې په اړه د هغوی د ژمنو لپاره یو شمیر اقدام په لار اچولي. د ډسمبر په میاشت کې د ټولو مهمو تصویب شویو ټولو تعدیلونو له جملې څخه هغه اقدامونه وو چې موخه یې د تدارکاتو د طرزالعملونو همغږي او ساده سازي او د نغدو پیسو د لیږد د سیستم رامنځ ته کول و. د ملګرو ملتونو د پروګرامونو او بودیجې په اړه توضیح شوي کلني کاري پلانونه به د ملګرو ملتونو د ټولو فعالیتونو په اړه د کړنو د یوې جامع بیاکتنې لپاره بنسټ جوړ کړي چې له ۲۰۱۲ کال راهیسې ترسره شوي. سربیره پر دې، د راپور ورکولو د مودې په جریان کې د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق (یونسیف) او د ۲۰۱۵-۲۰۱۹ کلونو لپاره د ملګرو ملتونو د وګړو د وجهي صندوق د هیواد د کچې پروګرامونو کوم چې د افغانستان د حکومت د لومړیتوبونو او د ملګرو ملتونو د پراختیايي مرستې د چوکاټ سره سمون لري، د حکومت سره پرې موافقه وشوه.

**پنځم. بشردوستانه مرسته**

۳۷. د ۲۰۱۵ کال له پیل راهیسې افغانستان ته په داوطلبانه راستنیدونکو کې د پام وړ زیاتوالی راپور شوی. د جنوري تر ۳۱ پورې، ۲۲،۳۰۹ کسان د راجستر شویو کډوالو او بې اسنادو افغانانو په شمول په خپله خوښه له پاکستان څخه هیواد ته راستانه شوي. دا د ۲۰۰۳ کال راهیسې په جنوري میاشت کې تر ټولو لوړ ثبت شوي ارقام دي او دا د ۲۰۱۴ کال د ټولیزو ارقامو سره تخمینا مساوي دي. د راستنیدونکو کورنیو اکثریت د کشمیر، خیبر پښتونخواه او پنجاب له سیمو څخه هیواد ته راستنیږي چې له ۱۵ نه تر ۲۵ کلونو پورې هلته اوسیږي. راستنیدونکو کورنیو د جبر او ځورونې او همدارنګه په کور او کارځایونو باندې د بریدونه پیښې راپورې کړې ډیری مرکه شویو خلکو ویلي چې افغانستان ته راستنیدل یې یوازینی غوره انتخاب و. د جنوري تر

۳۱ پورې، په ۲۰۱۴ کال کې د ټولټال ۳۷۵۴ هغو په پرتله، په یاده میاشت کې ۱۴۷۲ کسان شړل شوي. په ۲۰۱۴ کال کې د راستنیدنې په اړه کمښت تر یوې اندازې پورې د ټاکنو په اړه د بې باورې او د لیږد په موده کې د امنیت په اړه اندیښنو ته منسوب و خو مهمه اندیښنه په افغانستان کې د کارموندنې د محدودو فرصتونو د شتون په اړه وه. د ۲۰۱۵ کال د پیل راهیسې د کمښت رجحاناتو په شا تګ کړی. د ۲۰۱۵ کال د جنوري د میاشتې په اوږدو کې، هیواد ته د راستنیدونکو ټولټال ۳۳۱۷ افغان کډوالو سره مرستې شوې چې دا د ۲۰۱۴ کال د جنوري سره په پرتله ۹۰ سلنه زیاتوالې ښیې. د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنرۍ دفتر د پناه غوښتنې دځای/فضا د درناوي او د راستنیدونکو د په خپله خوښې راستنیدنې د خصوصیت لپاره خپله مدافعه تشدید کړې.

۳۸. د پاکستان په شمالي وزیرستان اجینسي کې د پوځي عملیاتو له امله د پولو په اوږدو کې د وګړو د لوړې کچې خوځښت دوام لري. د ۲۰۱۵ کال د جنوري تر ۳۱ پورې، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنرۍ دفتر د ۲۰۱۴ کال له نیمايي راهیسې په خوست او پکتیکا ولایتونو کې د ټولټال ۴۲۰۰۸ کورنیو سره مرستې کړې. زیاتره راستنیدونکې د کوربه کورنیو سره یو ځای ژوند کوي او ټولټال ۸۰۶۵ کورنۍ په خوست ولایت کې د ګولان په پنډغالي کې ژوند کوي. د جنوري د میاشتې په ورستیو کې په پکتیکا کې اضافي بې ځایه کیدنې راپور شوې. دا ارقام د کډوالو دوامداره تګ راتګ په ګوته کوي او په پایله کې به بشردوستانه اداري اړتیا ولري چې د نویو راستنیدونکو لپاره اضطراري اړتیاوو او همدارنګه د ساتنې او اقتصادي اوږدمهاله اندیښنو ته په پرله پسې توګه ځواب ووايي.

۳۹. د جنوري تر ۳۱ پورې، د داخلي بې ځایه شویو کسانو په اړه کاري ځواک، چې مشري یې د کډوالو او بیرته راستنېدونکو چارو د وزارت او د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ د دفتر له خوا وشوه، د ۲۰۱۵ کال د پیل راهیسې په افغانستان کې د شخړې له امله، ټولټال ۱۲۷۵۴تنه بې ځایه شوي ثبت کړي. په ټوله کې په ۲۰۱۴ کال کې په افغانستان کې د شخړې اړوند ۱۵۶۱۹۳کسان ثبت کړي، چې دا د ۲۰۱۳ کال په پرتله ۸ سلنه زیاتوال ښیې، دا د ۲۰۱۴ کال په پای کې په افغانستان کې د داخلي بې ځایه شویو کسانو شمیر ۸۰۵۴۰۹ تنو ته رسوي. د ۲۰۱۵ کال په جنوري کې، شاوخوا ۳۰۰۰ کسان په سویلي حوزه کې په لویه کچه د هلمند او ارزګان د ولایتونو څخه کندهار ولایت او د کندهار ښاري سیمو ته بې ځایه شوي. په شمالي سیمو کې هم چیرې چې نږدې ۳۵۰۰ کسان بې ځایه شوي زیاتې بې ځایه کیدنې ثبت شوې. بې ځایه کیدنې په پرله پسې ډول د افغانستان د ملي اردو او وسله والو غیر دولتي فعالینو ترمنځ رواني شخړې د وسله والو غیر دولتي فعالینو لخوا ځورونې او عمومي ناامنۍ ته منسوب کیږي. د افغانستان حکومت د اوږدې مودې داخلي بې ځایه کیدنې لپاره د داخلي بې ځایه شویو کسانو د خپلې پالیسې سره په سمون کې کومه چې د ۲۰۱۳ کال په نومبر کې تصویب شوه، د حل لار د موندلو لپاره تازه ژمنتیا ښودلې.

۴۰. د راپور ورکولو د مودې پر مهال، ملګرو ملتونو د طبیعي پیښو پر وړاندې د مبارزې د ملي کمیټې سره د غیر دولتي سازمانونو او د افغانستان د طبیعي پیښو پر وړاندې د مبارزې ملي اداري د ژمي په پیل کې په ټول هیواد کې زیان منونکو ټولنو ته په پرله پسې توګه د مرستو رسولو ته دوام ورکړی. په شمال او شمال ختیځو سیمو کې د نږدې ۱۲۳۰۰ خلکو سره د کالیو، کمپلو او ترپالونو مرستې شوې. د ژمي د پیل نه مخکې، د سر پناه ډلې راپور ورکړ چې د ډسمبر تر ۳۱ پورې، د هیواد په شمال کې د شدیدو سیلابونو په وړاندې د غبرګون د یوې برخې په توګه د کال په لومړۍ نیمايي کې د ۸۳ سلنه پناه ځایونو د تمویل چارې بشپړې شوې. تر دې دمه د بشردوستانه ادارو لخوا په کابل کې په غیر رسمي استوګنځایونو کې لاندې مرستې احتوا کوي، د ټولټال ۷۹۰۴ کورنیو سره د دوو میاشتو خوراکي توکو او د ټولټال ۶۶۱۷ کورنیو سره د سونګ توکو مرسته شوې. په خوست او پکتیکا ولایتونو کې، ټولټال ۲۳۳۲۶ کډوالو کورنیو ژمنۍ مرستې ترلاسه کړې. د سیلابونو په اړه ډله به د ژمي په اوږدو کې د غنمو، اوړو، نباتي غوړیو، دالونو، مالګې او انرژۍ لرونکو بسکیټونو ویش ته دوام ورکړي. د مالي سرچینو د کمښت له امله له وړاندې څخه د پلان شویو توکو د ۳۵ سلنې شتون سربیره، تر دې دمه ټولټال ۳۴۰۰۰۰ ګټه اخیستونکو مرستې تر لاسه کړې. د روغتیا په اړه ډلې لومړنې روغتیايي وسایل او درمل چمتو کړی ترڅو په ۲۴ ولایتونو کې په ۱۱۶ ولسوالیو کې د اټکل شوي ټولټال ۱.۹ میلیون خلکو ملاتړ وکړي. سربیره پردې د ګډ بشردوستانه وجهي صندوق په مرسته د هغو ټولنو لپاره موقتي روغتیايي کلینیکونه رامنځ ته شوي چې د ژمي په جریان کې دغو کلینیکونه ته لاسرسی نه لري.

۴۱.	په ۲۰۱۴ کال کې، د ماین پاکۍ شریکباڼو، د ملګرو ملتونو په همکارۍ په ۳۹۲ ټولنو کې د ماینونو ټولټال ۱۰۱۵ ډګرونه او د جګړې ۶۳ ډګرونه د ماینونو له خطر څخه پاک کړل چې په پایله کې یې ۱۱۷ ولسوالۍ له ماین څخه پاکې اعلان شوې. د دې پام وړ لاسته راوړنو سربېره محدود تمویل پدې معنی دی چې سکتور د ماین پاکۍ د عملیاتو لپاره خپل د ۲۰۱۴ کال هدف لکه څنګه چې د پرسونل ماینونو د مخنیوي د کنوانسیون په ۱۰ کلن کاري پلان کې ټاکل شوی، پوره نه کړ. اټکل کیږي چې لا هم د ماینونو ۳۹۱۲ ډګرونه او د جګړې ۲۴۸ ډګرونه په ماینونو ککړ دي، چې په ۲۵۸ ولسوالیو او ۳۳ ولایتونو کې یې ۱۵۶۹ ټولنې اغیزمنې کړې. پاتې چاودیدونکې توکي د خوځښت د زادي ممانعت کوي، د کرنې فعالیتونه محدودوي او اقتصادي وده سوکه کوي. ملګري ملتونه د ناټو د غوڅ ملاتړ د ماموریت سره د کار کولو له لارې هڅې ککړتیا ته هم رسیدګې کوي کومه چې د نړیوال امنیت د مرستندویه ځواک د عملیاتو په پایله کې را منځ ته شوې ترڅو د پخوانیو نړیوالو پوځي اډو او د ډزو د تمرین ځایونو د تصفیه کولو او پاکولو چارې همغږې کړې. د جنوري د میاشتې تر پایه پورې، د ډزو د تمرین ځایونو ټولټال ۳۲۴.۶ کیلو متره مربع ځمکه د ماینونو له خطر څخه پاکه شوې او نږدې ۶۷۴۰۰ چاودیدونکې توکي ، ۱۴۱۵۰ د سپکو وسلو مهمات رابرسیره شوې او له منځه وړل شوي. د نړیوال امنیت د مرستندویه ځواک (ایساف) د ټولټال ۱۰۲ پخوانیو تمرین ځایونو له جملې څخه چې باید د ماین له خطر څخه پاک شي، متحده ایالتونه د ۸۴ تمرین ځایونو د پاکولو مسولیت لري، خو یاد هیواد د خپل پروګرام څخه چې باید یاد تمرین ځایونه د ۲۰۱۵ کال تر ډسمبر پورې د ماین له خطر څخه پاک شي، وړاندې دي. همدارنګه د ۲۰۰۱ کال وروسته د مهماتو د ککړتیا په اړه د نا ثبت شویو مسلو په اړه پرمختګ شوی، د شریکباڼو تر منځ د خبرو د پیلیدو له لارې او د سروې ګانو لپاره د مالي سرچینو راغونډول به د ستونزې د هواري په برخه کې مرسته وکړي.

۴۲.	د راپور ورکولو د مودې پر مهال، د افغانستان حکومت او یونسیف د ۲۰۱۵-۲۰۱۹ لپاره د ۶۶۵ میلیون امریکایي ډالرو په ارزښت د هیواد په کچه د عمل د پروګرام تر ټولو ستر پلان لاسلیک کړ. دا پروګرام به د ماشومانو لپاره، په ځانګړې توګه د هغو ماشومانو لپاره چې د لاسرسي له لحاظه په ستونزمنو سیمو کې اوسیږي، د روغتیا، تغذیې، ماشومانو د ساتنې، ښوونې او روزنې، اوبو، حفظ الصحې په شمول، خدمتونو ته زیات لاسرسی برابر کړي.

۴۳.	د بشري لاسرسي پر وړاندې محدودیتونه په پرله پسې توګه د ملګرو ملتونو د نړیوال نظارت تر چوکاټ لاندې ثبت شوي. په ټولیز ډول د کارکونکو د شتمنیو او تاسیساتو پر وړاندې د بریدونو او روغتیایي تاسیساتو پر وړاندې د سرغړونې په شمول، په ۲۰۱۴ کې ۲۹۴ پیښې ثبت شوي. د پیښو د ټولیز شمیر له جملې څخه، ټولټال ۲۲۳ هغو نا دولتي سازمانونه اغیزمن کړي. په ټوله کې، ۵۷ مرستندویه کارکونکي وژل شوي، ۴۷ ټپیان شوي، ۱۸۲ تښتول شوي او ۱۱ تنه نیول شوي یا توقیف شوي. د روغتیایي کارکونکو پر وړاندې ۶۴ پیښې، د ماین پاکۍ د سایټونو پر وړاندې ۱۳ او د تعلیمي ادارو پر وړاندې ۷ پیښې ثبت شوی. د پولیو د واکسیناسیون د کمپاین پر وړاندې لنډمهاله بندیز چې د ډسمبر په نیمایي کې د وسله والو غیر دولتي فعالینو لخوا په هلمند ولایت کې ولګول شو ټولټال ۶۵۰۰۰۰ تنه واکسین شویو ماشومانو ته یې لاسرسی محدود کړ، یاد بندیز له هغه وروسته چې ملګري ملتونه له ټولو خواو سره په خبرو کې ښکیل شول د فبرورۍ په لومړیو کې لرې شو. په داسې حال کې چې افغانستان د ۲۰۱۳ کال د ګوزڼ د ۱۴ قضیو په پرتله، په ۲۰۱۴ کال کې د ګوزڼ ۲۸ قضیې راپور کړې، د واکنسیناسیون د کمپاینونو پر وړاندې خنډونه د جدي اندیښنې وړ دي.

۴۴.	د ډسمبر تر ۳۱ پورې، د افغانستان لپاره بشردوستانه تمویل ۴۳۹ میلیون ډالرو ته رسیدلی چې له هغې جملې څخه ۲۶۸ میلیون ډالر (۶۶ سلنه) د ملګرو ملتونو د ګډ بشري عملیاتی پلان لپاره تخصیص شوي دي. پاته یعني ۶۷ میلیون ډالر د سره صلیب نړیوالي اداري او د سري میاشتې ټولنې لپاره ځانګړي شوي، د تمویل پاته برخه کومې خاصې نمایندګۍ یا پروګرام ته نه دې اختصاص شوي. د هغه تمویل له جملې څخه چې د ګډ بشري عملیاتي پلان لپاره ټاکل شوي ۶۷ سلنه د ملګرو ملتونو نمایندګیو او پروګرامونو او ۳۳ سلنه غیر دولتي سازمانونو ته ځانګړي شوي.

**شپږم. د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه**

۴۵. د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر پر ۳۱، د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت د ملګرو ملتونو په تخنیکي مرسته د افغانستان د مخدره توکو د ۲۰۱۳ کال راپور خپور کړ. دغه راپور د مخدره توکو د کنټرول د ملي ستراتیژۍ د برخو په هکله د پرمختګ په اړه عمومي کتنه وړاندې کوي. دې راپور څرګنده کړه چې د تریاکو د خالص صادراتو ارزښت ټولټال ۲.۹۰ ملیارده ډالره اټکل شوی و چې د ۰.۱۲ میلیارد ډالرو داخلي مارکیټ ارزښت سره یو ځای د هیواد د ناخالص داخلي تولید د ۱۵ سلنې سره برابر دی. په راپور کې دا هم یادونه شوې چې که څه هم د تریاکو اوسط نرخ ټیټ شوی خو بیه یې د یوې کیلو پر سر د ۲۰۰۹ کال د ۷۵ امریکایي ډالرو په پرتله د یوې کیلو پر سر د ۱۶۰ امریکایي ډالرو څخه نسبتا لوړ دی نو له همدې امله اپین خپل ارزښت ساتي. د اټکل له مخې له ۱.۳ څخه تر ۱.۶ میلیونو پورې د مخدره توکو د کارونکو په درلودلو سره، د مخدره توکو ناقانونه کارونه په هیواد کې لاهم په پراخه پیمانه شتون لري. راپور یادونه کړې چې پداسې حال کې چې د درملنې ظرفیت وده کوي د دې په خاطر چې د مخدره توکو د ناقانونه کارونې زیان منونکو اغیزو مخه ونیوله شي، باید اندازه یې لوړه شي او وسائل شي. په راپور کې همدارنګه د مخدره توکو پر وړاندې د بندیانو د لومړي وضعیت تحلیل هم شامل دی او د دوی د ټولنیز اقتصادي شامنظر او د مخدره توکو په کاروبار کې د هغوي د ښکیلتیا لپاره د لاملونو په اړه معلومات وړاندې کوي .راپور د پالیسۍ د یو شمیر سپارښتنو سره پای ته رسیدلی تر څو دولت د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې پر هڅو بیا تمرکز وکړي کوم چې د ترسره شوي پرمختګ او موجوده ننګونو ارزونې ته رسیدګي وکړي.

۴۶. د ۲۰۱۴ کال د نومبر د ۱ نیټې څخه د ۲۰۱۵ کال د جنوري تر ۳۱ پورې، د افغانستان د قانون پلي کونکو چارواکو په ټولیزه توګه د مخدره توکو پر وړاندې ۷۱۳ عملیات ترسره کړي چې په پایله کې یې ۱۷۰۰ کیلوګرامه هیروین، ۶۳۲۵ کیلو ګرامه مورفین ۱۵۰۱۲ کیلوګرامه اپین ۳۹۲۹۹ کیلوګرام چرس ۳۱۷ کیلو ګرامه جامد کیمیاوي توکي او ۳۶۲۱ کیلوګرامه مایع کیمیاوي توکي نیولي. سربیره پردې د هیروینو نهه لابراتوارونه له منځه وړل شوي او ۱۸۲ نقلیه وسیلې او ۱۲۷ میله ډول ډول وسله تر لاسه شوې. ټول ۸۲۷ شکمن کسان نیول شوي، د افغان امنیتی ځواکونو یو غړی وژل شوی او د مخدره توکو پر وړاندې څلور پولیس افسران ټپیان دي. د ضبط او نیونو په برخه کې زیاتوالی د مخدره توکو پر وړاندې د پولیسو د وړتیا د ښه والي د مسلې سره تړاو لري څو د افغانستان د قانون د پلي کونکو ادارو او د ګاونډیو هیوادونو د قانون د پلي کونکو ادارو په دننه کې د همغږۍ د بهتر شویو هڅو او د استخباراتو پر بنسټ عملیات پیل کړي.

## اووم. د ماموریت ملاتړ

۴۷. یوناما په ټول هیواد کې د اختیاري فعالیتونو د ترسره کولو لپاره د لګښت له پلوه د اغیزمنو عملیاتو د یقیني کولو لپاره د سرچینو د تنظیمولو هڅو ته دوام ورکوي. ماموریت د دفتر د هوایي عملیاتو د شتمنیو د قرارداد ورکولو په برخه کې د ترلاسه شوی موثریتونو او همداراز تر یوې اندازې د اوموجا د تصدي د منابع د پلانولو د پروژې د کامیابه تطبیق له لارې عملیاتی لګښتونه کم کړي. ماموریت د ملګرو ملتونو د شریکانو سره د لګښت د شریکولو نور انتخابونه هم ګوري، په تیره بیا د بیړني طبي پاملرنې د چمتو کولو په برخه کې عامه خدمتونو ته وده ورکړي.

## اتم. ملاحظات

۴۸. د ۲۰۱۴ کال په پای کې، په ټولیز ډول د کابل د لیږد پروسه چې سیاسي امنیتي او ټولنیز اقتصادي ابعاد تر پوښښ لاندې نیسي په هغه ډول لکه څرنګه چې په کابل کې د افغانستان په اړه په سترو نړیوالو کنفرانسونو (۲۰۱۰) ؛ بون جرمني (۲۰۱۱)؛ او توکیو (۲۰۱۲) کنفرانسونو کې وړاندې شوې، بشپړه شوه. افغانستان د ۲۰۱۵ کال د جنوري په ۱ نیټه د لیږد لسیزې ته ور دننه شو چې په دې سره یې په خپلو داخلي چارو کې بشپړ لیډرشیپ او مالیکیت په غاړه اخیستی. د ډسمبر د میاشتې د لندن په کنفرانس کې، ولسمشر غني او اجرائیه رییس عبداله د "ځان بساینې د تحقق" تر عنوان لاندې د اصلاحاتو یوه پراخه اجنډا وړاندې کړه چې په پراخه کچه یې په افغانستان دننه او د نړیوالو ملګرو لخوا تود هرکلی شوی. د هیواد ډیرو ننګونو ته په دوامداره، ستراتیژیک او همغږي ډول رسیدګي به قوي لارښوونې او بشپړ دولتي روش ته اړتیا ولري.

۴۹. د راپور ورکولو موده د ملي يووالي د حکومت د تشکيل او نهايي ترکيب په اړه د روان کار سره مصادفه وه. د وزيرانو او نورو لوړ پوړو چارواکو لپاره د ګمارنې اوږدې پروسې د يو شمېر زياتو افغانانو لپاره چا چې د چټک پرمختګ غوښتنه کوله، د نه درک وړ نا اميدي لامل شوې. په ورته وخت کې، حقيقت دا دی چې د دواړو مشرانو او د هغوي د ټيمونو تر منځ بلالقوه دوامدارې خبرې اترې په متقابل درناوي سره چې زياتې هڅونکې وي، ترسره شوي. زه په دواړو، اجرائيه او مقننه قوو غږ کوم چې د ښځو په قوي استازيتوب سره د يوې متنوع او مسلکي ادارې د نهايي کولو لپاره له يو بل سره نږدې کار وکړي.

۵۰. د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر د ۲۱ نېټې سياسي هوکړه ليک کوم چې د ملي يووالي د حکومت لپاره ژمنتيا را منځ ته کوي د ټاکنو او اصلاحاتو لپاره بلند پروازانه مهال ويش هم درلود چې د لندن په کنفرانس کې يې د لوې جرګې په رابللو چې په هغې که به د حکومتولۍ اساسي مسلو ته رسيدګي وشي، ټينګار وکړ. د راتلونکو پارلماني او د ولسواليو د شوراګانو د ټاکنو په شمول، د ټاکنيزو مسلو په اړه ډېره علاقمندي په بيلابيلو نوښتونو کې چې د راپور ورکولو د مودې پر مهال رابرسيره شوه، منعکسه شوې. د همغږۍ د روش په اړه پراخ تړون ته عاجله اړتيا ليدله کيږي. په هغه کې به د ريښتينو زماني مودو، پراميټرونو، د حقوقي او موسساتي تعديلونو او بدلونونو د نږدې کيدلو په برخه کې ترتيبول، د رايه ورکونکو د پيژندنې قوي سيستم؛ او د ټاکنو لپاره د چمتووالی عملي کول شامل وي. زه د موافقه شوې انتخاباتي اصلاحاتو د کميسيون د ژر تر ژره جوړيدو په اړه لکه څنګه چې يادونه يې په سياسي هوکړه ليک کې شوې، غوښتنه کوم او همدارنګه د هغو هڅو ملاتړ چې موخه يې د تمويل کونکو په شمول، د ټولو شريکبانو سره د راتلونکې په اړه د شفافې او جامع ښکيلتيا څخه ډاډ ترلاسه کول دي.

۵۱. لکه څنګه چې اقتصادي ننګوني زياتيږي د افغانستان د ودې په کچه کې پرله پسې کميدل د جدي انديښنې لامل دی. د حکومت د عايداتو په اړه منفي اغيزو لا له وړاندې د اداري دندو او خدمتونو د رسولو په برخه کې د حکومت وړتيا اغيزمنه کړې. د بل القوه وچکالي له امله ممکن په افغانستان کې نسبتا معتدل ژمي د هيواد تر ټولو ستر اقتصادي سکټور، کرنه زيانمنه کړي.د عايداتو د بسيجولو لپاره، لکه څنګه چې د افغانستان له خوا د لندن د کنفرانس د اصلاحاتو په اجنډا کې په ګوته شوې، نوې ادارې د پلي کيدونکو تدبيرونو لپاره لومړيتوب جوړ کړی. زه د ۲۰۱۵ کال د بوديجې د کاميابه تصويب او همدارنګه په مالي نظم د تمرکز هرکلی کوم. لکه څنګه چې افغانستان يوه لا نور نورمال اقتصاد ته ننوځي د تمويلوونکو دوامداره او د اتکل وړ مرستې به ډيرې اړينې وي. د افغانستان د نهادونو او بهيرونو د پياوړتيا سره په مطابقت کې د بدلون د لسيزې له لارې،غړي هيوادونه د مالي او امنيتي مرستې لپاره د خپلو ژمنو د پوره کولو په برخه کې مهم رول لوبولاي شي.

۵۲. د پانګه والو او تمويل کوونکو د باور هڅونه به د اداري فساد په له منځه وړلو کې د حکومت هر اړخيزې هڅې په بر کې ونيسي. زه د نوې ادارې له اړخه د حساب ورکونې او د کابل بانک د سقوط په اړه د شتمنيو د بيرته ستنيدو د فساد پر وړاندې د مبارزې د بيلابيلو بنسټونو د دندو او مسؤليتونو د روښانه کولو او د لوړ پوړو چارواکو لپاره د هغوي د شتمنيو د اعلان لپاره د اساسي قانون د غوښتنو د پوره کولو هرکلی کوم. د حکومت د ژمنې په شمول، چې موخه يې د څار او ارزونې د خپلواکې ګډې کميټې وړانديزونو ته ځواب ووېل دی، دوامدارې پاملرنې ته اړتيا ليدله کيږي.

۵۳. د اقتصادي رکود په منځ کې، نا قانونه اقتصاد ښايي د هغه سره په متناسب ډول وده وموي. دا د مخدره توکو د غير قانوني سوداګرې پر وړاندې مبارزه له خطر سره مخامخوي. له کومه چې دا يوه جنايي اړيکه ده، دا نا امني تشديدوي، د قانون حاکميت زيانمنوي او د افغانستان، سيمې او ټولې نړيوالي ټولنې سلامتيا او سوکالي ګواښي. يواځنۍ پايښت لرونکې حل لارې هغه جامع حل لارې دي په کومو کې چې په ټولو پراختيايي پلانونو کې د مخدره توکو د مبارزې هڅې په ريښتنې معنی په اصلي مسير کې شامل شي او قوي سياسي اراده وښودل شي. د پيسو مينځلو او د تروريزم د تمويل د مؤثره مبارزې په شمول، د قانوني خصوصي سکتور وده به د قوانينو او مقرراتو د پلي کولو په برخه کې دوامداره پرمختګ ته اړتيا ولري.

۵۴. سوله په افغانستان کې د دوامداره، پايښت لرونکي سياسي او اقتصادي پرمختګ لپاره يو اساسي وړاندې شرط دی. د نړيوالو پوځي ځواکونو د کميدلو په شمول؛ د فکتورونو يوځای کيدنه په دې مهم وخت کې د نويو امکاناتو وړانديز کوي په کابل کې نوې ادارې، د چين او پاکستان سره د ښو دوه اړخيزو اړيکو په ګډون، سيمه ييزه ښکيلتيا زياته کړې. د دې په خاطر

چې د ښځې د خودي حلقو په منځ کې چې د لسیزو راهیسې دوام لري د له خطر سره مخ ګټو او منافعو پر وړاندې خنډونه لرې کړي، اوس رغنده اقدامونو، قوي او لید لورې لرونکي مشرتابه ته اړتیا لیدله کیږي. زه د ولسمشر غني له خوا د افغانانو تر منځ د خبرو اترو لپاره د عامه غوښتنې او له اسلام آباد سره د تماس ټینګولو هرکلی کوم او همدارنګه له ټولو خواو څخه غوښتنه کوم تر څو له دې فرصت څخه ګټه پورته کړي او د اړینو میکانیزمونو په اړه د کار کولو له لارې توافق حاصل کړي چې موخه یې د پرمختګ رسمي کول او تداوم دی. ملګري ملتونه په افغانستان کې له خپل واک سره په سمون کې له ټولو خواو سره اړیکې ساتي او د دې مقصد د ترسره کولو لپاره د خپل ښه نیت د دفترونو له لارې کارولو ته ادامه ورکوي او د غوښتنې سره سم مرستې ته چمتو دی. د لا زیاتو افراطي او ظالمانه ډلو په پام کې نیولو سره چې دم کړی په ټوله سیمه کې له یوې افراطي اجنډا سره یو ځای فعالیت کوي، اضافي انګیزې شتون لري.

۵۵. سیمه ییز ملاتړ د افغانانو په مشرۍ د پخلاینې د هڅو د احتمالي بریالیتوب د تقویت لپاره یو مهم عنصر دی. د استانبول د بهیر د وزیرانو د کچې په کنفرانس کې د بیجینګ اعلامیې د چټک پرمختګ لپاره د ګاونډیو او سیمه ییزو شریکانو د رایو په اتفاق سره ملاتړ څرګند کړ، زه همدارنګه د ځوځښت څخه د یقیني کولو په خاطر د چین د پرله پسې هڅو څخه هرکلی کوم. د موافقه شوې زماني مهال ویش سره سم د باور جوړونې د تدبیرونو په اړه د مخکښه هیوادونو په شمول چې د سیمه ییزې تخنیکي ډلې ناستې جوړوي، د آسیا زړه د استانبول د بهیر په اړه د دوامدارې پاملرنې غوښتنه کوم. زه همدارنګه د افغانستان او پاکستان تر منځ د دوه اخیزې ښکیلتیا په واسطه هڅول شوی یم او د اړین اعتماد د رامنځ ته کولو په برخه کې د ژمنتیا او صبر غوښتنه کوم. د ګډو ګټو له لارې د اعتماد زیاتوالی به د سیمه ییزې سوداګرې او نښلون او متصل کیدو لپاره مهم دی او د نورو شیانو تر څنګ، زه په ګډه د پاکستان – افغانستان او تاجکستان د درې اړخیز ترانزیتي سوداګریز تړون د جوړولو په اړه د سلا مشورې هرکلی کوم.

۵۶. په ۲۰۱۴ کال کې، په افغانستان کې په شخړه کې د وژل شویو او ټپي شویو ملکیانو شمیر د لومړي ځل لپاره چې کله یوناما په ۲۰۰۹ کال کې د ملکیانو په سیستماتیک مستند کولو پیل وکړ، د ۱۰۰۰۰ د کچې څخه واوښت. د ټولو ملکي تلفاتو نږدې دریمه برخه په پرله پسې توګه طالبانو او د هغو خواخوږو ډلو ته منسوب شوي. ځمکنۍ نښتې د لومړي ځل لپاره د ملکي تلفاتو مخکښه کلنۍ لامل پاته شوی. زه د شخړې د ټولو ډلو څخه غوښتنه کوم چې د ملکیانو او جنګیالیو تر منځ د توپیر په شمول د قوانینو درناوی وکړي او په ملکي ګڼ میشتو سیمو کې د درنو وسلو د کارولو څخه ډډه وکړي.افغان امنیتي ځواکونه د هیواد او وګړو د امنیت د تامین په برخه کې مخکښه رول لوبوي. زه د مخ پر زیاتیدنکو بریدونو په پایله کې د هیواد د امنیتي ځواکونو د ښودل شوي هوډ او زړورتیا ستاینه کوم او همدارنګه د غوځ ملاتړ د ماموریت له لارې د پرله پسې نړیوال ملاتړ هرکلی کوم. د جګړه ییزو فعالیتونو د ترسره کولو په برخه کې د ملکي کسانو د تلفاتو د کمولو د میکانیزمونو د پیاوړتیا او حسابورکوونې او د شخړې د اړوندو توقیفیانو سره چلند باید د افغان امنیتي ادارو د موسساتي پراختیا په برخه کې یو لومړیتوب وي. د شکنجې د له منځه وړلو په اړه د عمل نوی ملي پلان یو مهم اقدام دی. زه یې د پلي کیدو په تمه یم.

۵۷. په احتمال سره به وسله والې شخړې د دوبي په راتلونکې موسم کې زور واخلي. حتی د خبرو اترو د نویو فرصتونو په منځ کې لکه څنګه چې د مخه یې یادونه شوې، د یاغیتوب داسې سخت دریځه عنصرونه شتون لري، چې غواړي د افغان امنیتي ځواکونو هوډ او زړه ورتیا معلومه کړي. د سولې د بهیر لپاره د مهال ویشونو او د سولې وروستي هدف ته د ژمنتیا په اړه باید حقیقت شتون ولري او په دې هم باید پوه شي ممکن لار چټکه او آسانه نه وي. د شخړې د اړوند تاوتریخوالي بشري بیه د سملاسي/فوری تلفاتو څخه ها خواه اوړي. د ۲۰۱۴ کال لپاره د ماموریت د ملکي کسانو د ساتنې کلنۍ راپور د کونډو او د هغوي د ماشومانو، څوک چې نه یوازې د نفقې راوړنکي له لاسه ورکوي، بلکه د ټولنیزې ساتنې یوه سرچینه چې کله د دوي میړونه په شخړه کې وژل کیږي یا ټپي کیږي، بد حالت څرګندوي. شخړه د دولت د بشر دوستانه فعالینو او ټولنو په ظرفیت هم چې بحرانونو ته غبرګون ښيي، منفي اغیزه کوي. په افغانستان کې د ګوزڼ د ناروغۍ مخ پر زیاتیدونکې هره قضیه یوه شخصي او د مخنیوي وړ تراژیدی ده او په ډیره خواشیني سره یادونه کوم چې د هلمند په ولایت کې د ګوزڼ واکسین یو وار بیا د راپور ورکولو د مودې پر مهال ګډوډ شو. د بیا پیل کیدو هرکلی یې کوم او د شخړې په ټولو خواوو غږ کوم څو د بشر پالنې د لاسرسي پر وړاندې

مسؤلیتونو ته درناوی وکړي. د دې لپاره چې اغیزمن وي، د معافیت کمپاینونه باید دوامداره وي او د ډلو تر منځ باید د شخړې موضوع و نه ګرځي.

۵۸. د افغانستان په اقتصاد کې د بیا یوځای کیدو په شمول، له پاکستان څخه د راستنیدونکو بې ځایه شویو او نا راجسټر شویو کسانو په برخه کې چټک زیاتوالی به د پایدارو حل لارو د یقیني کولو په برخه کې نږدې همکاري ته اړتیا ولري. مخ پر زیاتیدونکې داخلي بې ځایه کیدنه د داخلي بې ځایه شویو کسانو په اړه د ملي پالیسۍ د تطبیق په برخه کې پرله پسې پرمختګ مشخصوي. زه د دغو زیانمنونکو وګړو د اړتیاوو د پوره کولو په برخه کې د ولسمشر د ځانګړي علاقمندي او ژمنتیا هرکلی کوم.

۵۹. په افغانستان کې د سیاسي ټیکاو د ملاتړ د پرله پسې اهمیت په یادولو سره، او د یوه داسې امنیتي وضعیت څارنه چې په لنډ مهال کې د خرابیدونکي وضعیت په اړه اشاره ورکوي، د امنیت شورا څخه غوښتنه وکړم تر څو د یوناما ماموریت چې د ۲۰۱۵ کال د مارچ په ۱۷ پای ته رسیږي، د ۱۲ نورو میاشتو لپاره تمدید کړي. د دې کار په کولو سره، زه د افغانستان سره د دوامداره شراکت په اړه د ملګرو ملتونو په ژمنه بیا ټینګار کوم او همدارنګه د هغې موثرې طریقې یادونه هم کوم چیرې چې د ۲۰۱۴ کال په اوږدو کې د موجوده ماموریت په خاص ډول د بشري حقونو د جدي مسلو او د تمویل کوونکو د همغږۍ په اړه د دې ماموریت د ښه نیت د دفترونو د دندو او ښکیلتیاوو څخه ګټه اخیسل شوې. زه په غړو هیوادونو غږ کوم چې په ټول هیواد کې زموږ د بوختیاوو او فعالیتونو د ساتلو لپاره د اړینو سرچینو چمتو کولو ته دوام ورکړي.

۶۰. زه غواړم چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ټولو کارکونکو او زما ځانګړي استازي نیکولاس هیسم ته د دوامداره تعهد لپاره، اکثرا د ننګونو څخه په ډکو حالاتو کې، د افغانستان د خلکو د ملاتړ په برخه کې زموږ د ژمنو د پوره کیدو لپاره خپلې نیکې هیلې وړاندې کړم.

**ضمیمه**

**د معیارونو پر وړاندې ترسره شوی پرمختګ**

**لومړی. امنیت**

**معیار: باثباته افغان امنیتي نهادونه او بهیرونه چې د سولې او ټیکاو د تامین او د افغان وګړو د ساتنې وړتیا ولري.**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
| --- | --- |

| | |
|---|---|
| د توافق شوي جوړښت سره سم، د رهنمايي شويو، روزل شويو او عملياتي افغان ملي پوليسو او ملي اردو د منسوبينو زيات شوي شمير | • د ۲۰۱۵ د جنوري تر ۱ نيټې پورې، ټولټال ۱۶۴۱۶۱ پرسونل چې په افغان ملي پوځ کې خدمت کوي او ټولټال ۶۲۰۸ پرسونل چې په افغان هوايي ځواک کې خدمت کوي، چې په ټوله کې ۱۷۰۳۶۹ منسوبين دي، کوم چې د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ د مياشتې لپاره د نهايي هدف له شمير څخه ۲۴۶۳۱ کم دی. همدارا‌ز د جنوري د مياشتې تر ۱ نيټې پورې، ټولټال ۱۵۶۷۵۱ منسوبينو د افغان ملي پوليسو په ليکو کې دنده اجرا کوله، کوم چې د نهايي هدف د شمير څخه۲۶۴ کم دی.<br><br>• د شمالي اتلانتيک د تړون د سازمان (ناټو) په سرمشريزه کې چې د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر په ۴ او ۵ په انګلستان او شمالي آئرلينډ کې جوړه شوې وه د ناټو متحدينو او شريکانو يې د ۲۰۱۷ کال تر پايه له افغان ملي امنيتي ځواکونو سره په کال کې د شاوخوا ۵.۱ ملياردو امريکايي ډالرو مرستې او خپل دوامداره ملاتړ ژمنه وکړه او د ناټو - افغانستان د دوامداره مشارکت لاندې يې خبرو اترو ته دوام ورکړ. |
| د افغانستان د امنيت مشرتابه ته د مرحله وار او د شرايطو پر بنسټ د ليږد د يوه پلان جوړول او پرمختګ | • د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر په ۳۱ د انتقال / امنيتي ليږد پروسه په داسي حال کې پای ته ورسيده چې کله افغان ځواکونو د امنيت بشپړ مسؤليت په غاړه واخيست څرنګه چې د نړيوال امنيت مرستندويه ځواک (ايساف) په افغانستان کې خپل ماموريت پای ته ورساوه او د جنوري په ۱ نيټه په هيواد کې د غوڅ ملاتړ ماموريت پيل شو.<br>• د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر پر ۳۰، حکومت د متحده ايالتونو سره دوه اړخيز امنيتي تړون او له ناټو سره د ځواکونو د وضعيت تړون لاسليک کړل. د ډسمبر پر ۱۲ دد امنيت شورا ۲۱۸۹ (۲۰۱۴) پريکړه ليک تصويب کړ د ناټو او د افغانستان د حکومت ترمنځ د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموريت د رامنځ ته کولو د موافقې هرکلی کوي کوم چې به افغان امنيتي ځواکونو ته روزنه مشوره او مرسته چمتو کړي. |

## دويم. سوله، ادغام او پخلاينه

**معيار: د رغنده او ټولشموله بهيرونو د تعقيبولو لپاره ملي خبرې اترې او سيمه ييزه ښکيلتيا چې موخه يې د يوه داسې سياسي چاپيريال تقويت چې د سولې لپاره مساعد وي**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقياسونه* |
|---|---|

| | |
|---|---|
| د ټولشموله ملي او سیمه ییزو بهیرونو پرمختیا او تطبیق چې موخه یې د سولې، ادغام او د پخلاینې د هڅو وده او ترویج دی | • په ۲۰۱۴ کال کې، ټولټال ۱۷۱۶ حکومت ضد عناصر د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدنې د پروګرام سره یو ځای شوي. د ګډ سکرتریت ولایتي ټیمونو د پروګرام په ملاتړ د ټولنې د بیا رغونې د پروژو د را منځ ته کولو په برخه کې، لکه څنګه چې د مرتبطو وزارتونو سره په همکارۍ کې د اټکل ۲۲۰۰ پروژو د ایجاد له لارې له ځانه زیاته وړتیا ښودلې.<br>• د سولې د عالي شورا یوه پلاوي د ۲۰۱۳ کال د ډسمبر د ۲۸ او د ۲۰۱۴ کال د جنوري د ۲ نیټو تر منځ د سعودي عربستان څخه لیدنه وکړه ترڅو د دیني عالمانو په یوه ناسته کې چې د اسلامي همکاریو د سازمان په کوربه توب ترسره کیږي، برخه واخلي. د سولې عالي شورا وړاندیز وکړ چې د دیني روایتونو سره د مبارزې لپاره چې تاوتریخوالي ته لمن وهي د نړیوالو علماوو یوه کاري ډلې رامنځ ته کړي چې د ګډونوالو له خوا ورته تود هرکلی وویل شو.<br>• د ۲۰۱۴ کال د فبروري په ۱۶، په انقره کې د پاکستان – ترکیه او افغانستان درې اړخیزې سرمشریزې په افغان طالبانو غږ وکړ چې د سولې له پروسې سره یو ځای شي او همداراز یې په نړیواله ټولنه غږ وکړ تر څو د هغو هڅو مرسته وکړي چې موخه یې د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د سولې د پروسې پر مخ وړل دي.<br>• د اکتوبر په ۳۱، د آسیا زړه – د استانبول د پروسې د وزیرانو په څلورم کنفرانس کې ولسمشر غني "سیاسي اپوزیسیون په ځانګړې توګه طالبانو ته په بین الافغاني خبرو کې په ګډون ټینګار" وکړ او د نړیوالو شریکانو څخه یې غوښتنه وکړه چې د افغانستان په مالکیت او د افغانانو په مشرۍ د سولې د پروسې سره مرسته وکړي.<br>• د نومبر په ۱۴ او ۱۵ اسلام آباد ته د ولسمشر غني د سفر په جریان کې د پاکستان مشرتابه د افغانستان سره ژمنه وکړه چې طالبان به د خبرو اترو میز ته حاضر کړي. د کنفرانس ګډونوالو د افراطیت او تروریزم د مخنیوي لپاره په ګډو هڅو هم موافقه وکړه.<br>• په ډسمبر کې، اجرائیه رییس عبداله د سولې د ولایتي کمیټو د مشرانو سره ولیدل تر څو د سولې په پروسه کې د ښځو پراخه برخه اخیستنه وهڅوي.<br>• په ۲۰۱۴ کال کې، د افغانستان حکومت امنیت شورا ته چې د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) پریکړه لیک په تعقیب را منځ ته شوی، پایښت لرونکې، تازه او دقیق معلومات راغونډ او چمتو کوي. |
| د امنیت شورا کمیټې ته چې د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) د پریکړې په تعقیب رامنځ ته شوی ثابتو، تازه او دقیقو معلوماتو د راټولولو او چمتو کولو لپاره د افغان چارواکو لخوا زیاته وړتیا | • په ۲۰۱۴ کال کې، د امنیت شورا کمیټې چې د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) کال پریکړه لیک په تعقیب رامنځ ته شوي د اشخاصو او مؤسسو په خپل نوملړ کې ۱۵ تعدیلات وضع کړل چې د امنیت شورا د ۲۰۸۲ (۲۰۱۲) پریکړه لیک په لومړۍ فقره کې د شتمنیو د کنګل کولو د سفر د بندیز او د وسلو د بندیز سره تړاو لري، او د ملګرو ملتونو د منشور په VII فصل کې تصویب شوي.<br>• د ۲۰۱۴ کال په فبروري کې، د سولې عالي شورا د ښځو د غیر دولتي سازمانونو په مرسته د ښځو د سولې کمپاین پیل کړ، دغو |

| | |
|---|---|
| د ټولنې په کچه او له مدني ټولنې سره د ښکیلتیا له لارې د سولې پروسې لپاره د عامه ملاتړ زیاتیدل | سازمانونو په یوه غوښتنلیک کې د ښځو ټولټال ۲۵۰۰۰۰ لاسلیکونه را غونډ کړل چې د سولې او اوربند غوښتنه یې کوله. په دې پیغام کې له حکومت، وسله والو مخالفینو او نړیوالې ټولنې څخه وغوښتل شول تر څو په هیواد کې د سولې د تامین لپاره جدي هڅې وکړي.<br>• په سپټمبر کې، د سولې د ورځې لمانځل چې ملاتړ یې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) او د سولې د ولایتي کمیټو لخوا شوی، د سولې لپاره عامه ملاتړ څرګند کړ او ټینګار یې وکړ چې د اوږدې مودې شخړې د پای ته رسولو لپاره د دولت ضد عناصرو سره معنی لرونکې سیاسي خبرې اترې یوازینۍ حل لار ده.<br>• د اکتوبر پر ۸، د ښځو، سولې او امنیت د نړیوال پرانیستې ورځې د لمانځلو غونډه چې د ملګرو ملتونو د سیمه ییزو چارواکو او مدني ټولنې لخوا تنظیم شوې وه، په هیواد کې د سولې په هڅو کې د ښځو د ګډون پر اهمیت ټینګار وکړ.<br>• د نومبر په ۷ ولسمشر غني د دیني عالمانو او دیني پوهانو سره وکتل او د هغوی څخه یې وغوښتل چې په هیواد کې د تلپاتې سولې په تامینولو کې فعال رول ولوبوي. دیني عالمانو او دیني پوهانو ولسمشر ته د هغوی د بشپړ ملاتړ ډاډ ورکړ.<br>• |

**دریېیم. حکومتولي او د ادارو جوړونه:**

**معیار: د پالیسیو د پلي کولو د ظرفیت په درلودلو سره او په زیاته پیمانه د ځان ساتنې ورتیا څو په سیمه ییزه کچه د دموکراتیکو قانوني حساب ور تاسیساتو د رامنځ ته کولو له لارې په ټول هیواد کې د دولت واک پراخ کړي .**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د ښځو د ګډون په تړاو او په قانوني ډول د ورکړل شوې وندې په پام کې نیولو سره، د ریښتینو او دوره یې ټاکنو د تنظیم او ترسره کولو لپاره د افغان چارواکو او خپلواکو ټاکنیزو ادارو د وړتیا زیاتوالې | • د ۲۰۱۴ کال د اپریل په ۱، د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو لپاره د چمتووالي په برخه کې، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د نوم لکنې تقویتي تمرین بشپړ کړ، چې په دې سره یې خلکو ته چې د ۱۸ کلونو عمر یې پوره کړی، یا یې د استوګنې ځای بدل کړی او یا یې خپل د رایې ورکونې کارتونه ورک کړي، ټولټال ۳۸۱۹۳۴۶ د رایو د ورکړې اضافي کارتونه وویشل.<br>• په ۲۰۱۴ کال کې، د ټاکنو د شکایتونو خپلواک کمیسیون په خپل جوړښت او عملیاتي ظرفیت کې ښه والی را منځ ته کړی او په ۳۴ ولایتونو کې یې دفترونه پرانیستي. د شکایتونو کمیسیون موقته ستراتیژي او عملیاتي پلان وړاندې کړ او د راجسټر کولو، دوسیه جوړولو، او قضاوت او د ټاکنیزو ننګونو او شکایتونو لپاره یې طرزالعملونه خپاره کړل. |

| | |
|---|---|
| | • د ۲۰۱۴ کال په اوږدو کې، په ۳۴ ولایتي دفترونو کې د ټاکنو د شکایتونو د خپلواک کمیسیون لپاره د شکایتونو ۱۰۲ ولایتي کمیشنران وټاکل شول. <br>• د رسنیو کمیسیون، چې یو موقت نهاد دی د دې لپاره را منځ ته شو تر څو د ټاکنیزې مودې پر مهال د رسنیو د چارو څخه څارنه وکړي، د رسنیو د چارو د ترسره کولو لپاره لارښودونه جوړ کړي، او د هیواد په کچه یو شمیر ورکشاپونه دایر کړي او د اصولو د درناوي لپاره د بیانونو د خپرولو غوښتنه وکړي او د رسنیو پر وړاندې د درج شویو شکایتونو په اړه قضایي پریکړه وکړي. <br>• د ۲۰۱۴ کال د اپریل په ۵، په افغانستان کې د ولسمشرۍ او ولایتي شورا ګانو ټاکنې ترسره شوې. په توله کې، د ټاکنو په ورځ د رایو ۶۰۸۲ مرکزونو او د رایو ۱۹۷۸۴ سټیشنونه فعال وو. لکه څنګه چې هیڅ نوماند په لومړي پړاو کې غوڅ اکثریت ترلاسه نه کړ، نو د دوو مخکښه نوماندانو محمد اشرف غني او عبداله عبداله تر منځ د دوهم پړاو ټاکنې د جون پر ۱۴ ترسره شوې. د ټاکنو د دوهم پړاو په ورځ د راپورونو سره سم د رایې اچونې ټولټال ۶۲۲۵ مرکزونو پرانیستي وو. <br>• د لومړي پړاو ټاکنو د ارزونې پر بنسټ، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنو په دوهم پړاو کې د بهیر د ښه کولو په موخه ځینې بدلونونه را منځ ته کړل. پدې بدلونونو کې د رایې ورکولو د کمښت په صورت کې د ځواب ویلو لپاره د بیړنیو توکو له وړاندې د ځای په ځای کولو په برخه کې ښه والی او د رایې ورکونې په مرکزونو کې د نږدې ۲۰۰۰ محلونو اضافه کول ترڅو د رایې ورکونکو لاسرسی ښه کړي. <br>• د ټاکنو بهیر په ملي او نړیوالو کتونکو او همدارنګه د ګوندونو په استازو متکي و ترڅو د ټاکنو د ترسره کیدو څخه څارنه وکړي. د ټاکنو په لومړي پړاو کې  ټولټال ۶۷ داخلي سازمانونو په ټول هیواد کې د ۱۴۵۸۵ کتونکو په شمول په ټاکنو کې د ګډون له لارې برخه اخیستې وه. په دوهم پړاو کې ټولټال ۴۰۷۴۳ کتونکو برخه اخیستې وه. نوماندانو او د ګوندونو استازو د ټاکنو په لومړي پړاو کې ۳۶۲۷۸۰ او د ټاکنو په دوهم پړاو کې ۷۰۰۴۱ کتونکي ثبت کړي. <br>• یوناما د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو په بهیر کې د جنستي اندیښنو د ډاډ حاصلو په خاطر د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او مرسته کونکي ټولنې سره نږدې کار کړی. د ښځو د برخه اخیستنې  د پوهاوي د لوړولو د فعالیتونو او مدافعې پورې د اړوند نظارتي اقداماتو په ټاکنو کې د رایه ورکونکو او د ټاکنو کارمندانو د زیاتي برخه اخیستنې سره مرسته کړې. د ښځو د ولایتي شورا د نمایندګۍ لپاره د ۲۰ سلنې ونډه چې د انتخاباتي قانون لخوا ټاکل شوې، ترلاسه شوې. |
| د اداري فساد پر وړاندې د څارنې او ارزونې د خپلواکې ګډې کمیټې تاسیس او د اداری فساد پر وړاندې د معیارونو رامنځته کول | • د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر پر ۲، د اداري فساد پر وړاندې د نظارت او ارزونې خپلواکې ګډې کمیټې د کابل بانک د قضیې په اړه |

تعقیبي راپور خپور کړ، دې راپور د بېرته ترلاسه کیدونکو شتمنیو، جرمي تعقیب، مالي مقرراتو او د نوي کابل بانک د خصوصي کولو په اړه تازه معلومات چمتو کړ. په همدې ورځ، د کابل بنک د درغلۍ د قضیې د بیا پرانیستلو په اړه د ولسمشر فرمان صادر شو، او د نومبر په ۱۱، د استیناف محکمې د یاد بانک د دوو پخوانیو مشرانو د سزا موده دری برابره، یعني د ۵ کلونو څخه ۱۵ کلونو ته لوړه کړه. محکمې همدارنګه د محکمې هغه حکم تایید کړ چې د بانک د نورو پخوانیو لوړ رتبه چارواکو د شتمنیو تر څنګ د پخواني ولسمشر کرزي د ورور محمود کرزي شتمنۍ تر هغو تر څو چې ټولې پیسې تر لاسه شي، کنګل کړي.

- د نومبر په ۱۹، کمیټې د دولتي او خصوصي ځمکو د غصب په اړه خپل راپور خپور کړ، راپور یادونه کړې چې د ۲۴۰۰۰۰ هیکتاره ځمکې څخه زیاته د تیرې لسیزې په اوږدو کې غصب شوې، ځمکې په لویه کچه د محکمې د کارکونکو له خوا د رسمي قبالو د جعل کولو او په کابل ښاروالۍ کې د ځمکې د لیږد په اړه د اسنادو د جعل له لارې غصب شوې. راپور همدارنګه اشاره کړې چې د هیواد د ۳۴ سنلې څخه کمه ځمکه سروې شوې او په قانوني دول راجسټر شوې، پاته ځمکه د غصب د خطر په معرض کې قرار لري.
- کمیټې د درملو د وارداتو د بهیر په اړه د نومبر په ۱۹ د فساد په اړه د زیانمنې د ارزونې خپل شپږم راپور خپور کړ. راپور په ګوته کوي چې د هیواد د درملو ۵۰ سلنه ټیټ کیفیت لري، کمیټه دا تشه د درملو د تدارکاتو د یوه قوي قانون د نشتوالي، کمزورو طرزالعملونو او د جواز اړتیاوو او د انتخاب په برخه کې د درملو د واردولو او ویش په برخه کې بې نظمیو ته منسوبوي. راپور همدارنګه یادونه کوي چې د عامې روغتیا وزارت د درملو د وارداتو په برخه کې په مؤثره توګه د نظارت کولو ظرفیت نلري، کوم چې تر ډیره حده د درملو د بهرنیو تدارک کونکو لخوا کنټرول کیږي.

له اداري فساد سره د مبارزې د بنسټونو پیاوړي کول چې د اداري فساد پروړاندې د حکومت د ټولې کړنلارې څارنه وکړي

- د ۲۰۱۴ کال د نومبر په ۸، د ولسمشر دفتر یو اداري حکم صادر کړ چې موخه یې د نظارت او اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د عالي دفتر، د پلټنې د عالي اداري او د لوی څارنوال دفتر د اداري فساد پر وړاندې د دندو او مسولیتونو بیاکتنه ده تر څو د ورته والي/تکثیر د تکرار کچه را ټیټه کړي او بشپړتیا/متممیت تضمین کړي. سربیره پر دې، د ۲۰۱۴ کال په اکتوبر کې، په دولتي ادارو کې د اداري فساد پر وړاندې د یادې کمیټې د څارنې د اقداماتو په شمول، حکومت د فساد پر وړاندې د نظارت او ارزونې د ګډې خپلواکې کمیټې د نظارت رول تایید کړ.

د عامه چارواکو د شتمنیو د اعلان کلنۍ نشر

- په ۲۰۱۴ کال کې، د اداري فساد پر وړاندې د نظارت عالي اداري په کابل او ولایتونو کې د دولتي چارواکو ۵۵۲۵ شتمنۍ ثبت کړې دي، چې په دې سره د کال تر پایه د ټولو راجسټر شویو شتمنیو اټکل ۸۵۰۰ ته رسوي. دې دفتر همدارنګه د پخواني ولسمشر

| | |
|---|---|
| د ملکي خدمتونو د اصلاحاتو تقویت چې ملاتړ یې د ظرفیتونو د لوړولو او تمویل کونکو د تمویل شوې تخنیکي مرستې لپاره د یوې جامع کړنلارې په واسطه کیږي<br>د سیمه ییزې حکومتدارۍ د پالیسۍ پلي کول او د سیمه ییزې مقرراتي مالي او بودیجې چوکاټونو پراختیا | حامد کرزي، د هغه د مرستیالانو او د هغه د حکومت د یو شمیر لوړ رتبه غړو په شمول، د ټولټال ۱۶۷ لوړ پوړو دولتي چارواکو د شتمنیو د تاییداتو په اړه معلومات خپاره کړل، چې په دې سره د لوړ پوړو چارواکو د شتمنیو د تایید شمیر ۲۰۰ ته رسوي.<br>• په ۲۰۱۴ کال کې، د ملکي خدمتونو د روزنې انستیتیوت په ملي کچه ټولټال ۴۹۷۴ ملکي کارکونکو او په سیمه ییزه کچه ټولټال ۹۸۲۶ ملکي کارکونکو ته د مدیریت د کمپیوټر د مهارتونو انګلیسي ژبې د مهارت پلان جوړولو او مالي / محاسبې په برخو کې روزنې ورکړې دي. سربیره پردې ټولټال ۱۸۶۷ تنو لوړ پوړو او د منځنۍ کچې ملکي کارکونکو په هندوستان، جاپان، مالیزیا، سینګاپور او تایلینډ کې د محلي حکومتدارۍ او عامه مالي مدیریت په برخه کې روزنه ترلاسه کړې دي.<br>• د یادې پروسې له لارې د ټولټال ۹۰ نورو ولسوالانو په تاکلو سره، په ۲۰۱۴ کال کې د وړتیا پر بنسټ د ولسوالانو ګمارنو دوام درلود، چې په دې سره د وړتیا د بنسټ له لارې د ګمارل شویو ولسوالانو شمیر ۳۲۱ هغو ته لوړ شو. سربیره پر دې، د والي ۲ نور مرستیالان هم ټاکل شوي د دې سیستم لاندې په ټولیز ډول د ۳۴ ولایتونو لپاره والیانو ګمارل شوي دي.<br>• په ۲۰۱۴ کال کې د پایلو د پروګرام لپاره د ظرفیت لوړول چې مدیریت یې د نړیوال بانک لخوا شوی، د عامې روغتیا، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ، د سوداګرۍ او صنایعو، د کلیو د بیارغونې او پراختیا، د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو او کانونو او پټرولیم د وزارتونو وړاندیزونه تصویب کړل.<br>• د دولت د تشکیل په برخه کې څنډ د ښاروالۍ د قانون د نهایي کیدو مخه ونیوله. د قانون مسوده مخکې له دې چې د قانون د تصویب لپاره پارلمان ته واستول شي، په اوس حال کې د ولسمشر لخوا تایید ته انتظار باسي.<br>• د ۲۰۱۴ کال په جنوري کې، د ولایتي بودیجې جوړولو پالیسي د مالیې وزارت لخوا طرح او کابینې ته د تصویب په موخه وړاندې شوه. په اکتوبر کې، ولسمشر د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې ادارې او مالیې وزارت ته لارښونه وکړه تر څو د ولایتونو لپاره د بودیجې د اختصاص د زیاتوالي لپاره میکازمونه جوړ کړي.<br>• په اپریل کې، د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې ادارې د نظارت او ارزونې نوی چوکاټ تصویب کړ تر څو په سیمه ییزه کچه د پروګرامونو او فعالیتونو د پرمختګ څرک ولګوي.<br>• په مې میاشت کې، د سیمه ییزې ادارې د قانون مسوده د پارلمان د ولسي جرګې په ټولو کمیټو کې تر بحث لاندې ونیوله شوه او اوس مهال د تصویب لپاره د ولسي جرګې په عمومي غونډه کې معرفي کیږي.<br>• په اکتوبر کې د ولایتي شورا تعدیل شوی قانون د پارلمان د دواړو مجلسونو لخوا تصویب شو او په نومبر کې ولسمشر ته د تصویب په موخه وسپارل شو. د ۲۰۱۵ کال په جنوري کې، |

| | |
|---|---|
| د اداري حدودو لپاره د معيارونو را منځ ته کول او خپرول | ولسمشر ياد قانون د ولايتي شوراګانو د نقشونو د روښانه کولو لپاره ولسي جرګې ته بيرته ستون کړ. د جنوري په ۲۸، پارلمان د ولايتي شوراګانو د نظارتي نقش په ايسته کولو سره قانون تعديل کړ. دا پريکړه په ټول هيواد کې د ولايتي شورا د غړو لخوا رد شوه او د اعتراض په توګه يې خپل دفترونه وتړل. دوی غوښتنه کړې چې ولسمشر دې تعديل نه تصويبوي. دې ته په غبرګون کې ولسمشر د سيمه ييزو ارګانونو خپلواکې ادارې ته دنده وسپارله چې دا مسله حل کړي. |
| د فعالو حکومتي ادارو لپاره د مناسب زيربنا رامينځته کول په ځانګړې توګه په سيمه ييزه کچه | • ملي او نړيوال نهادونه د ۲۰۰۹ کال د داخلي حدودو د ډيټا کارولو ته، لکه څنګه چې د سيمه ييزې حکومتدارۍ د خپلواک رياست او د جيوډسي او کارتوګرافي/نقشه برداري د مرکزي دفتر لخوا تصريح شوي، دوام ورکوي. |
| د با اعتباره او لاسرسي وړ قضايي او جزايي سيستمونو رامنځ ته کول چې د ټولو اتباعو د بشري حقونو درناوی او ساتنه کوي | • د سيمه ييزو ارګانونو خپلواک رياست د پنځو ولايتي اداري ودانيو او د ولسواليو د ۱۸ اداري ودانيو تعميراتي کارونه تر يوې اندازې پای ته رسولي. سربيره پردې ياد رياست د ولايتي شورا د يوې ودانۍ ودانيزې چارې بشپړې او د دريو نورو ودانيزې چارې يې تر يوې اندازې بشپړې کړې.<br>• په ۲۰۱۴ کال کې، د جزايي قوانينو د اصلاح کاري ډله، چې مشري يې د عدليې وزارت له خوا کيده په يوه نوې قانون کې د ۱۹۷۶ کال د جزا د قانون د ځايولو په شمول چې تر دې دمه يې په ۳۵۰ مادو له سره کتنه کړې، د ټولو جزايي قوانينو د تعديل او توحيد پروسې ته دوام ورکړی. تمه کيږي چې د ۲۰۱۵ کال تر پايه به د وزارت له خوا د جزا تعديل شوی قانون نهايي شي. لکه څنګه چې ملاتړ يې د يوناما له خوا شوی، د جزا نوی قانون به د لومړي ځل لپاره د اداري فساد پر وړاندې ټولې مقررې، د فرا ملي تنظيم شويو جرمونو پر وړاندې د ملګرو ملتونو د انسانانو او قاچاق شويو کسانو په برخه کې د قاچاق په اړه د پروتوکول له خوا اړين جرمونه او د جنګي جرمونو د بشريت او ټول وژنې پر وړاندې د جرمونو تعريفونه چې د روم د اساسنامې سره مطابقت لري چې د ملګرو ملتونو د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د کنوانسيون لخوا الزامي شوي، احتوا کوي.<br>• د ۲۰۱۴ کال په فبروري کې د جزايي اجرااتو قانون د تصويب وروسته، د عدليې وزارت په قانوني سيستم کې د نوي قانون د پلي کولو هڅې پيل کړې او يوناما به په پرله پسې توګه د نړيوال ملاتړ د همغږۍ سره د مرستې کولو په موخه ملاتړ برابر کړي.<br>• په ۲۰۱۴ کال کې، د ځمکې په اړه د پاليسۍ مشورتي ډله د دې لپاره را منځ ته شوه تر څو د ځمکو د موثره او شفافې اداري او مديريتي سيستمونو په اړه د حکومت د همکارانو سره د پاليسۍ د بحثونو د ملاتړ لپاره د کارپوهانو د تخنيکي مشورې د چمتو کولو لپاره د نړيوالو شريکانو د همغږۍ ښه کول رامنځ ته کړي. دې ډلې د محکمو او د افغانستان د ځمکې د اداري (اراضي) د نقشونو په شمول، د قبالو د صادرولو او ثبتولو په برخه کې د |

ځمکو د شخړو د حل د غیر رسمي میکانیزمونو د رول او له قانوني رسمي سیستم سره ارتباط، د دولتي ځمکو د غصب د بیا ترلاسه کولو او د ښځو د میراث او مهر د حقونو د بیا اعاده کولو او پلي کولو په شمول، د ځمکې د اداري او مدیریت د تقویه کولو لپاره د پالیسۍ جوړولو او پلي کولو لپاره یو شمیر متمرکزې ساحې په ګوته کړې.

- په ۲۰۱۴ کال کې یوناما د ځمکې د غصب په اړه یو موضوعي راپور خپور کړ کوم چې د ځمکې مدیریت په قانوني چوکاټ کې یو شمیر نیمګړتیاوې په ګوته کړې او د ملي مدني قانون د اصلاحاتو د دلې د رامنځ ته کیدو وړاندیز یې وکړ ترڅو داسې یو پارچه چوکاټ رامنځ ته کړي چې جرمي جزاګانې پکې شاملې وي.
- په ۲۰۱۴ کال کې د زندانونو مرکزي ریاست خپل دوه کلن ستراتیژیک پلان طرح کړ کوم چې د جون په میاشت کې د کورنیو چارو د وزارت لخوا تصویب شو. په توقیف خونو کې د دوامداره ګنې ګوڼې د مسلو د ځوابولو په موخه، په ۲۰۱۴ کال کې د کورنیو چارو وزارت په کاپیسا او بدخشان ولایتونو کې د دوو زندانونو د جوړولو لپاره مالي مرسته وکړه چې له دې سره به د زندان د توقیفیانو ظرفیت ۸۵۰ ته لوړ شي. د عدلیې وزارت همدارنګه په ننګرهار فراه او بلخ کې د ژېکیو د اصلاح مرکزونو د ودانۍ لپاره مالي مرسته برابره کړه ترڅو د ژوند شرایط ښه کړي او د ژېکیو لپاره قضایي پروګرامونه تسهیل کړي.
- په ۲۰۱۴ کال کې، د عامې روغتیا وزارت د یوناما په ملاتړ د ۲۰۰۹ کال د زندانو د روغتیایي خدمتونو د کڅوړې بیا کتنه بشپړه کړه. د پایلې په توګه د عامې روغتیا وزارت د خدمتونو د رسولو د ښه والي په خاطر د کورنیو چارو له وزارت سره په خپل تفاهم لیک له سره غور کوي او بیا یې چمتو کوي.

**څلورم. بشري حقونه**

**معیار: د افغانستان د اساسي قانون او نړیوالو قوانینو سره سم د افغانانو بشري حقونو ته د درناوي ښه والې، د ملکي وګړو د ساتنې، د ښځو او نجونو د وضعیت، د بیان د آزادي، د قانون د حاکمیت پر بنسټ د حساب ورکونې په اړه په ځانګړي ټینګار سره**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|

| | |
|---|---|
| د نړیوالو قوانینو سره د ذیدخلو مراجعو د سمون له لارې، د ملکي خلکو پر وړاندې د ځواک د نا قانونه کارونې او ویرولو د پېښو په شمیر کې په کمښت سره | • په ۲۰۱۴ کال کې، یوناما ټولټال ۱۰۵۴۸ ملکي تلفات (۳۶۹۹ مړیني او ټپي کیدني۶۸۴۹) مستند کړي، چې دا د ۲۰۱۳ کال په پرتله د ټولو ملکي تلفاتو په برخه کې ۲۲ سلنه زیاتوال ښيي. نږدې ۷۲ سلنه ملکي تلفات دولت ضد عناصرو، ۱۴ سلنه دولت پلوه ځواکونو (۱۲ سلنه افغان ملي امنیتي ځواکونو او دوه سلنه نړیوالو پوځي ځواکونو) او ۱۰ سلنه د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د نا منسوب شویو ډزو تبادلې ته منسوب شوي. د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ ځمکنۍ نښتې د ملکي تلفاتو مخکښه لامل پاته شوی، چې ټولټال ۳۶۰۵ ملکي تلفات (۱۰۹۲ مړیني او ۲۵۱۳ ټپي کیدني) جوړوي چې ور پسې په لاس جوړ چاودیدونکي توکي راځي چې د ټولټال ۲۹۷۸ ملکي تلفاتو (۹۲۵ مړیني او ۲۰۵۳ ټپي کیدني) لامل شوي.<br>• په ۲۰۱۴ کال کې، د ملګرو ملتونو په مشرۍ د ماشومانو او وسله والې شخړې په اړه د نظارت او راپور ورکولو د هیواد کاري ځواک د ماشومانو ټولټال ۲۵۰۲ تلفات (۷۱۰ مړیني او ۱۷۹۲ ټپي کیدني) مستند کړي، چې دا د ۲۰۱۳ کال د ورته مودې په پرتله ۴۸ سلنه ډیروالی ښيي.<br>• حکومت د " موافقت په لور د خپلې لار نقشې" چې په اصل کې یو ۱۵ نکته یي هدفي پلان چې موخه یې د ۲۰۱۱ کال د عمل د پلان چټک تطبیق دی ترڅو د کم عمره ګمارنې مخه ونیسي. د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر په ۳۱، د ملي شورا مشرانو جرګې د ولسمشر د فرمان یوه مسوده تصویب کړه چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا کم عمر استخدام جرم ګڼي، چې ولسمشر غني د ۲۰۱۵ کال د فبرورۍ په ۲ نیټه تصویب کړ.<br>• د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر په میاشت کې د ملګرو ملتونو د ماشومانو د وجهي صندوق (یونیسف) په ملاتړ د کورنیو چارو د وزارت لخوا د زیږون د ثبت ملي ستراتیژي تائید شوه دا یو داسې نوښت دی چې د کم عمره ماشومانو د ګمارنې پر وړاندې محافظت پیاوړی کوي. |
| د خپلو حقونو په اړه د افغانانو او د حکومت له خوا د خپلو ژمنو په اړه د پوهاوی لوړوالی | • په نومبر کې، افغان امنیتي ځواکونو، د ملګرو ملتونو په مرسته د افغان امنیتي ځواکونو او برخه اخیستونکو لپاره د استخدام لپاره د عمر د ارزونې د معیارونو په اړه یو ورکشاپ ترسره کړ چې په پایله کې یې په امنیتي سکټور کې د عمر د تصدیق کولو د طرزالعملونو د ښه کولو او معیاري کولو لپاره د لارښودونو یوه اصلاح شوی مجموعه رامنځ ته شوه.<br>• په ۲۰۱۴ کال کې حکومت د ولسمشرۍ د معلوماتو د همغږۍ په مرکز کې د ملکي تلفاتو د تعقیبولو د مرکز له لارې د ملکي تلفاتو تعقیب او معلومولو ته دوام ورکړ.<br>• د افغان سیمه ییزو پولیسو د ریاست د نظارت او څیړنو څانګې د بشري حقونو د سرغړونو په تړاو د سیمه ییزو پولیسو د ټولټال ۶۸ مورد څیړنو په شمول، د ملګرو ملتونو مدافعې د افغان سیمه ییزو پولیسو د غړو د لا زیاتې حساب ورکونې سره مرسته کړې. په |

د دوی د حقونو په اړه او د هغه له اړخه د دولت د ژمنو په اړه د افغانانو له خوا بهتر شوی پوهاوی

ریاست کې دننه چارواکو راپور ورکړ چې د تحقیقاتو په پایله کې ۶۴ کسان نیول شوي او همدارنګه يې څلورو محکومیتونو ته لار هواره کړې.

- په ۲۰۱۴ کال کې، د نړیوال امنیت مرستندویه ځواکونو د لوړې کچې چاودیدونکو توکو د تمرین ځایونو د په نښه کولو او پاکولو په برخه کې د کومو څخه چې نور کار نه اخیستل کیږي چې موخه يې د جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو په پایله کې د ملکي تلفاتو د کچې راکمول دي، د پام وړ پرمختګ کړی.
- یوناما په افغان توقیف ځایونو کې د شخړې د اړوندو توقیفیانو سره د چلند او د ولسمشر د ۱۲۹ ګڼې فرمان د پلي کیدو په اړه چې د ۲۰۱۳ کال په فبروري کې صادر شو او موخه يې د شکنجې او ناوړه چلند پای ته رسول او مخنیوی و، نظارت ته دوام ورکوي. د هیواد د جزايي اجرااتو نوی قانون د ۲۰۱۴ کال د جون پر ۵ نیټه نافذ شو، د قانوني پړاونو د ترسره کیدو او عادلانه محکمې تضمینونه يې پیاوړی کړل. یوناما د یوه ملي مخه نیونکي میکانیزم د را منځ ته کولو لپاره مدافعې ته دوام ورکړ تر څو د نړیوالو ښو کړنو سره سم شکنجې او بد چلند ته ځواب ووايي.
- په ۲۰۱۴ کال کې، یوناما د ملي تلفاتو د ساتنې په اړه دوه راپورونه خپاره کړل او د شریکانو او رسنیو سره يې د مدافعې فعالیتونه ترسره کړل تر څو د موندنو او سپارښتونو د اړوندو کسانو پوهاوی لوړ کړي. د مۍ په ۱۳، یوناما د شخړې د ټولو ښکیلو ډلو د ژمنو په اړه د رهنما یو کتاب ګوټی خپور کړ چې د افغانستان د اساسي قانون، د اسلام د بنسټیزو تعلیماتو او شریعت د قانون لاندې  د ماشومانو تضمین شویو حقونو ته وده ورکړي او د هغو ساتنه وکړي چې ملاتړ يې د شریکانو د ۵۰ څخه زیاتو ورکشاپونو او د ۷۰۰ کتابګوټو د نسخو د ویش په واسطه شوی.
- د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر پر ۸، د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پریکړه لیک لاندې په کابل او د هیواد په کچه په ۱۲ ولایتونو کې د "ښځو سولې او امنیت په اړه نړیواله پرانیستې ورځ" چې په کې د لرې پرتو ولسوالیو په شمول، د ۲۰۰ څخه زیاتو ښځو ګډون کړی وو، تنظیم کړه او موضوع يې هم "په سیاسي او د سولې په پروسو کې د ښځو برخه اخیستنه - لاسته راوړنې، تشې او راتلونکې" وه.
- په ۲۰۱۴ کال کې، یونیسف  د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون او نورو شریکانو، د امنیت د کارکونکو  ولایتي او ولسوالۍ د چارواکو  مذهبي او قومي مشرانو  مدني ټولنې  ښوونې او روزنې د کارکوونکو، د روغتیايي کارکونکو او د ماشوم خوندیتوب د عمل د شبکې غړو په شمول په وسله واله شخړه کې د ماشومانو پر وړاندې د جدي سرغړونې په اړه او د دې سرغړونو په اړه د راپور ورکولو او مخنیوي په اړه د ۶۰۰ تنو څخه ډیر برخه اخیستونکي حساس کړل.
- د ښځو د چارو د وزارت، د جنسیت د مساواتو او د ښځو د پیاوړتیا (UN-Women) لپاره د ملګرو ملتونو د نهاد په ملاتړ د حقوقي

د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي سره د مبارزې لپاره د حقوقي او پالیسی د اقداماتو د ښه والي او ملاتړ لپاره

چوکاټ په ملاتړ په ۱۶ ولایتونو کې د پوهاوي د لوړولو یو شمیر فعالیتونه ترسره کړل چې د ښځو او نجونو د ساتنې اړتیاوو ته ځواب وايي. د فعالیتونو پر مهال، د پولیسو، دیني علماوو، د ټولنې د مشرانو، او ښځو د ډلو ټولټال ۱۴۴۰ ګډون کونکو د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو او د افغانستان د حقوقي چوکاټ د محتوا په اړه روزنې تر لاسه کړې دي.

- د ۲۰۱۴ کال د مارچ په ۱ او د نومبر پر ۲۴، دولت د ملګرو ملتونو په ملاتړ، د توکیو د دوه اړخیزه حساب ورکونې د چوکاټ لاندې د خپلو ژمنو سره په سمون کې، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د قانون د پلې کیدو د وضعیت په اړه دوه راپورونه خپاره کړل. دې راپورونو تر دې دمه د یوه جامع ډیټابیس د رامنځ ته کولو د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو په هکله د ملي او ولایتي کمیسیونونو د پیاوړتیا او د قانون په اړه د پوهاوي د لوړولو په شمول کوم چې د ملګرو ملتونو د وړاندیزونو سره مطابقت درلود، د قانون د پلې کیدو په اړه د پرمختګ بیا کتنه کړې.
- په ۲۰۱۴ کې د لوی څارنوالۍ د دفتر لاندې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو په موخه د څارنوالۍ د واحدونو شمیر له ۸ څخه ۱۸ ولایتونو ته لوړ شو. ملګرو ملتونو په ۳۲ ولایتونو کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو په موخه کمیسیونونو ته تخنیکي مرسته برابره کړه.
- د ښځو چارو وزارت او د مالیې وزارت د ملګرو ملتونو په تخنیکي مرسته د ۲۰۱۴ کال د سپتمبر په ۱۶ یو ملي کنفرانس جوړ کړ،دې کنفرانس د تسوید یوه کمیټه جوړه کړه څو توضیحي لارښودونو جوړ کړي چې موخه یې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د قضیو لپاره د منځګړیتوب د کاروني تنظیمول دي.
- د کورنیو چارو وزارت په جنوري کې د افغان ملي پولیسو په لیکو کې د ښځو د ادغام او ساتنې لپاره یوه ستراتیژي تایید کړه. د مارچ په ۱۰ یو بین الوزارتی کمیسیون را منځ ته شو او د ستراتیژۍ د پلي کولو لپاره د عمل د پلان د مسودې د چمتو کولو دنده ور له غاړې شوه د کومې لپاره چې یوناما تخنیکي ملاتړ چمتو کوي. د کورنیو چارو وزارت د اګست په ۱۳ نهايي پلان تصویب کړ چې په پولیسو کې د ښځو د ګډون ساتنې او مسلکي کیدو د ښه والي لپاره اقدامات په ګوته کوي. د نومبر په میاشت کې د حکومت په غوښتنه یوناما د هغو اقداماتو په هکله د پالیسی مشورې وړاندې کړې چې حکومت یې ممکن په عامه ژوند کې د جنسي ځورونو د مخنیوی لپاره ترسره کړي. .
- د ملي شورا ولسي جرګې د جزايي اجرااتو د قانون ۲۶ ماده تعدیل کړه ترڅو پخواني قانوني احکام له سره تنظیم کړي چې ښځې په دې توانمندي کوي چې د خپلوانو پر وړاندې د شاهدي ورکولو ته دوام ورکړي او د کورني تاوتریخوالي په قضیو کې د شکمنو محاکمه

| | |
|---|---|
| د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي سره د مبارزې لپاره د حقوقي او پالیسی د اقداماتو د ښه والي او ملاتړ لپاره | کولو ته لاره هواروي. د ملګرو ملتونو او شریکبانو مدافعې د بهیر سره مرسته کړې.<br><br>• د ۲۰۱۴ کال د نومبر په ۲۵، د جنسیتي تاوتریخوالي پر وړاندې د فعالیتونو د ۱۶ ورځني نړیوال کمپاین د یوې برخې په توګه ملګرو ملتونو په ټول هیواد کې د رسیدنې د فعالیتونو ملاتړ وکړ، د مناظرو، رادیويي پروګرامونو او ورکشاپونو کوربه توب یې وکړ چې د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي او د ښځو او نجونو لپاره د افغانستان او نړیوالو قوانینو له مخې د اړوندو حقوقي ساتنو لپاره د عاجلې اړتیا په اړه پوهاوی زیاتوي.<br>• د نومبر په ۱۶، د عامې روغتیا وزارت د روغتیايي پاملرنې د چمتو کونکو لپاره د جنډر پر اساس د تاوتریخوالي د درملنې لومړی پروتوکول خپور کړ کوم چې د ملګرو ملتونو سره په ګډه جوړ شوی.<br><br>• په ۲۰۱۴ کال کې، د افغان خلکو د بحثونو دوهم پړاو بشپړیدو ته نږدې و. د خلکو بحثونه کوم چې د مدني ټولنې په مشرۍ د سولې یو جامع نوښت دی چې په تیرو دریو کلونو کې د یوناما په مرسته ترسره شوی او د شخړې د محلي لاملونو د پیژندلو او د سولې لپاره د ځایي سړک نقشو د جوړولو په برخه کې ټولټال ۶۰۰۰ افغانان په دې بهیر کې ښکیل وو، ګډون کړی. ګډونوالو د سولې لپاره ۳۴ ولایتي سړک نقشې جوړې کړې چې د هغو له جملې څخه ۱۲ هغه یې د ۲۰۱۵ په جنوري کې په یوه ملي کنفرانس کې په لار واچول شو. د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د ملیشو یې واکه کول او بې وسلې کول د بشري حقونو وده او عالانه پرمختګ او خدمتونو ته د لاسرسي او د سولې د پروسې د لا ټولشمولوالي په شمول، د ۲۰۱۵ کال د جون په ۱۰ د خلکو بحثونو د ملي موندنو په اړه خپل راپور خپور کړ چې د ۳۳ وړاندیزونو په درلودلو سره یې د سولې لپاره یو ۱۰ نکته یې ملي سړک نقشه وړاندې کوي. |
| د حکومت له خوا د نړیوالو میثاقونو او کنوانسیونونو په اړه د راپور ورکولو د اړتیاوو پوره کول او د افغانستان د بشري حقونود شورا د نړیوالې دوره یې بیاکتنې د وړاندیزونو پلي کول | • حکومت د ۲۰۱۴ کال په اکتوبر کې د رهبرۍ د کمیټې په ناسته کې د امنیت شورا د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پریکړې د پلي کیدو په اړه د عمل د ملي پلان په تصویب سره، په سیاسي د سولې او امنیت په بهیرونو کې د ښځو ګډون په اړه خپله ژمنتیا څرګنده کړه.<br>• د ۲۰۱۴ کال په جنوري کې افغانستان د بشري حقونو د شورا لخوا خپله دویمه نړیواله دوره یې بیاکتنه وړاندې کړه. د بیاکتنې په جریان کې ۸۹ هیوادونو افغانستان ته ۲۲۴ وړاندیزونه کړې. افغانستان ۱۸۹ منلی ۱۲ یې رد کړی او په ۲۳ سپارښتنو غور کولو ته یې چمتوالی ښودلی.<br>• د اګست په ۴، د وزیرانو شورا "په حکومتي ادارو کې د بشري حقونو د ملاتړ مقرره" تصویب کړه، دې مقررې د عدلیې وزارت د بشري حقونو د ملاتړ د ځانګې نقش روښانه کړ او هغې ته یې اختیارات ورکړل تر څو د هیواد د بشري حقونو د نړیوالو ژمنو سره |

| | |
|---|---|
| | د هيواد د ملي قانون اجابت يقيني کړي او د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د تړونونو او نړيوالې دوره يي بياکتنې د وړانديزونه د پلي کولو څخه نظارت وکړي. <br>• په ۲۰۱۴ کال کې، د عدليې وزارت د بشري حقونو د ملاتړ څانګې، د ملګرو ملتونو په ملاتړ د حکومتي وزارتونو او ادارو سره خبرو اترو ته دوام ورکړی تر څو د ماشوم د حقونو په اړه د کنوانسيون لاندې د خپلو ژمنو د تطبيق چارې لومړيتوب بندي کړي. |
| د افغانستان د حکومت او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون ظرفيت او ژمنتيا زياتوالی، د افغانستان د بشري حقونو د ملي اداري په توګه د بشري حقونو درناوی ساتنه تحقق او وده ورکول | • حکومت د شکنجې پر وړاندې کميټې ته د خپل دولتي راپور چمتو کولو ته دوام ورکړ په ۲۰۱۴ کې يي درې کنفرانسونه داير کړل ترڅو د راپور ورکولو په بهير کې حکومتي چارواکي قضا او مدني ټولنه ښکيل کړي. <br>• په ۲۰۱۴ کال کې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د خپلې خپلواکۍ د جنډر- کارمندانو د تناسب او تمويل په اړه اندېښنو ته د رسيدګۍ په موخه هغه مسلې چې د بشري حقونو د ملي نهادونو د نړيوالې همغږي د کميټې د اعتبار په اړه د فرعي کميټې له خوا د هغه د ۲۰۱۳ کال د باور ليک په بياکتنې کې مطرح شوې د پام وړ هڅې وکړې. په اکتوبر کې کميسيون د بيا اعتبار لپاره په ډسمبر کې و ارزول شو. د کميټې د سپارښتنو په تعقيب، د نړيوالې همغږۍ کميټې نهايي پريکړه وکړه چې کميسيون د پاريس د اصولو سره مطابقت لري او خپل "الف" دريځ يي ساتلی. <br>• د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر په ۱۰، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د ۲۰۱۴-۲۰۱۸ لپاره خپل پنځه کلن ستراتيژيک پلان چې د ملګرو ملتونو په ملاتړ رامنځ ته شوی، خپور کړ. پلان د کميسيون لپاره پنځه ستراتيژيک اهداف په ګوته کوي: د بشري حقونو وده او ساتنه د افغانستان د بشري حقونو د کميسيون رهبري کول او د بدلون لپاره مدافعه، د ملي او نړيوالو بشري حقونو د مسؤليتونو سره د دولت د اجابت څارنه، د قربانيانو د حقونو ساتنه او د کميسيون اغيزمنتوب يقيني کول. <br>• د اګسټ په ۲۰، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د بچه بازۍ (د "هلکانو سره لوبې کولو") د لاملونو او پايلو په اړه يو راپور خپور کړ دا په اصل کې په افغانستان کې د لوړ پوړو چارواکو له خوا چې د واک او مقام دندي لري او د هلکانو په جنسي استثمار کې ښکيل وي، يو عمل او کړنه ده. کميسون پر حکومت غږ وکړ چې د کړني په جنايي کولو او جرم شميرلو، د عاملينو د محاکمه کولو او د قربانيانو په پيژندلو او ساتنې سره د بشري حقونو دې جدي سرغړونې ته د پای ټکی کيږدي. راپور ناوړه چلند ته منسوب شوی، د بيلګې په توګه، د قانون کمزوري حاکميت، فساد فقر او په هيواد کې د ناقانونه وسله والو ډلو شتون. <br>• يونيسف د کابل او کندهار د ژنکيو په اصلاح مرکزونو او توقيف ځايونو کې د ماشومانو لپاره د رواني ملاتړ په برابرولو کې د ملي سازمانونو ملاتړ ته دوام ورکوي. په ټوله کې ۳۳۸ ماشومان ۳۲۸ هلکان او ۱۰ نجونې چې ډيری يي د ملي امنيت پورې اړوند تورونو |

| | |
|---|---|
| | باندې توقیف شوي په ۲۰۱۴ کال کې د هغو لپاره رواني ملاتړ چمتو شوی. |

## پنځم. اقتصادي او ټولنیزه پراختیا

**معیار: د حکومت پالیسي ګانې چې د نړیوالې ټولنې له خوا یې ملاتړ کیږي، کوم چې پایښت لرونکي اقتصادي رشد ته وده ورکوي او په ټوله کې د ثبات سره مرسته کوي.**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقایسونه* |
|---|---|
| د ملي لومړیتوب پروګرامونه د نړیوال ملاتړ په تایید سره طرح او پلي کیږي | • د ۲۰۱۴ کال په جون کې، د اقتصاد وزارت د افغانستان د ملي پر اختیایي ستراتیژۍ لپاره پنځه کلن تکمیلي راپور خپور کړ کوم چې په ۲۰۱۳ کې پای ته رسیدلی او د ملي لومړیتوب د پروګرامونو لپاره بنسټ و. راپور د پرمختیایي شاخصونو په مقابل کې په اتو سکتورونو کې پرمختګ ارزولی. د روغتیا سکتور یې د ۸۸ سلنه شاخصونو په ترلاسه کولو سره د تر ټولو ښه اجرا شوې سکتور په حیث پیژندلی، او د خصوصي سکتور وده او ټولنیز خوندیتوب یې د تر ټولو د کمزوري سکتور په حیث پیژندلی چې په ترتیب سره یې ۴۵ او ۴۶ سلنه شاخصونه لاسته راوړي.<br>• په ۲۰۱۴ کال کې، د لومړیتوب ۲۱ ملي تصویب شوې پروګرامونه د ملي پراختیا لپاره د دولت د پلان او د تمویلوونکو لپاره د ریښتیني لارښود په توګه کار کوي او غوښتنه کوي چې د دولت د لومړیتوبونو سره یو ځای پروګرامونه عیار کړي.<br>• په خپله سند کې "د ځان بسیاینې تحقق - د اصلاحاتو او نوي مشارکت ژمنې" تر سرلیک لاندې حکومت د ۲۱ څخه ۱۲ هغو یا هم کمو ته په را کمولو سره، د ملي لومړیتوب د پروګرامونو د پیاوړي کولو اراده څرګند کړه. |
| په ټول افغانستان کې د پرمختیایي مرستې او حکومتي لګښتونو مساوي توزیع | • د ۲۰۱۴ په اکتوبر کې ولسمشر غني د مالیې وزارت او د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې ادارې ته لارښوونه وکړه چې تر ۴۰ سلنې پورې ولایتونو ته د بودیجې د زیات تخصیص لپاره وړاندیز چمتو کړي. په ۲۰۱۴ کې ټول ۳۴ ولایتونه د امتحاني ولایتي بودیجې په پروګرام کې شکیل وو چې له هغو څخه ۱۲ لږ پرمختللو ولایتونو هر یو ۳ میلیون امریکایي ډالر او پاتې ولایتونو هر یو، یو میلیون امریکایي ډالر ترلاسه کوي. |
| د افغان سرچینو پر اساس د زیاتو عوایدو راټولول او دوامداره وده | • د نړیوال بانک د ۲۰۱۵ کال د جنوري د میاشتې د نړیوال اقتصادي لرلیدونو راپور د هیواد په ناخالص تولید کې په ۲۰۱۳ کال کې د ۳.۷ څخه په ۲۰۱۴ کال کې ۱.۵ سلنې ته راټیټ شو. راپور د ۲۰۱۵-۲۰۱۷ کلونو لپاره څخه د ودې د لوړې کچې وړاندوینه کوي. |

| | |
|---|---|
| | • په ۲۰۱۴ کې د ټولټال ۲. ۲ میلیارد ډالرو د هدف په وړاندې د ۸. ۱ میلیارد ډالرو د عایداتو په پرتله د دولت عواید کم و. د مالیې د نویو اقداماتو په معرفي کولو کې ځنډ په ځانګړې توګه د ارزښت پر اساس مالیه؛ کمزوري ګمرکات او د مالیې اجابت؛ د سیاسي او امنیتي لیرد څخه راپورته شوې بې باوری د عوایدو د کمیدو په برخه کې مرسته وکړه کوم چې د غیر مالي، مالي تشې لامل شوه.<br>• د ۲۰۱۴ کال په اکتوبر کې حکومت د مالي تشې د بندولو لپاره له ډونرانو څخه په لیکلي بڼه د تمویل غوښتنه وکړه. یو شمیر مرسته کوونکو په راتلونکو میاشتو کې د مالي مرستو په ورکولو سره غبرګون وښود چې پخوا د پراختیایي لومړیتوبونو لپاره په نظر کې نیول شوې وي ترڅو د تشو په ډکولو کې مرسته وکړي. حکومت د تشو د ډکولو په موخه د پراختیایي لومړیتوبونو څخه ملي مرستي بلې خواته اړولي، د ۲۰۱۵ کال بودیجه د ۲۰۱۵ کال د جنوري په ۲۸ د ملي شورا له خوا تصویب شوه، د دولت لخوا تمویل شویو پراختیایي پروژو ته د دوام اجازه ورکوي خو د ۲۰۱۵ لپاره یې نوي اختیاري نوښتونه نه دي تصویب کړي. |

**شېږم: سیمه ییزه همکاري**

**معیار: د سوکالۍ، سولې او ثبات په ملاتړ پایښت لرونکې او موثره سیمه ییزه همکاري.**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د سیمه ایزو ارګانونو ښه همغږي او د سیمه ییزو پانګونو زیاتوالي | • د ۲۰۱۴ کال د فبروري له ۲ څخه تر ۱۱ پورې د هغو فعالیتونو د یوې برخې په توګه چې ملاتړ یې د آسیا زړه - د استانبول د پروسې د باور جوړونې د تدبیرونو لاندې د جاپان له خوا کیده د افغانستان د طبیعي پیښو پر وړاندې د مدیریت د ۱۳ استازو یوه پلاوي جاپان ته سفر وکړ.<br>• د فبروري په ۱۳ د پاکستان – افغانستان او ترکیې اتمه درې اړخیزه ناسته په انقره کې جوړه شوه او په هغه موضوع چې سرلیک یې د "آسیا په زړه کې دوامداره سوله" وه تمرکز وکړ. په ګډه اعلامیه کې د افغانستان د اساسي قانون په چوکاټ کې د سیاسي جوړجاړي پر اهمیت ټینګار شوی او پر افغان طالبانو غږ شوی چې د سولې له پروسې سره یو ځای شي.<br>• د فبروري په ۱۶ افغانستان او قرغیزستان د سیاسي اقتصادي او امنیتي مسلو په اړه د اړیکو د پیاوړي کولو لپاره د تفاهم درې یاددښتونه لاسلیک کړل.<br>• د فبروري په ۲۶ او ۲۷ افغانستان د آسیا زړه د استانبول د پروسې د یوې برخې په توګه د تروریزم پر وړاندې د اعتماد جوړونې د تدبیرونو په توګه د تروریزم د تمویل پر وړاندې د مبارزې د یوه ورکشاپ کوربه و. |

- د مارچ په ۳ د افغانستان او ترکمنستان د بهرنیو چارو وزارتونو د ۲۰۱۴ – ۲۰۱۵ کلونو لپاره د همکارۍ یو پروګرام لاسلیک کړ.
- د مارچ په ۵ په مسکو کې د آسیا زړه – د استانبول د پروسې د مخدره توکو پر وړاندې د اعتماد د رامنځ ته کولو د اقداماتو لاندې د فعالیتونو په توګه د بنګ دانو ضد یو سیمینار ترسره شو. د مارچ په ۸ او ۹ د تروریزم پر وړاندې د مبارزې د باور جوړونې د تدبیرونو لاندې د ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو پر ضد یو ورکشاپ په کابل کې ترسره شو.
- د مارچ په ۲۶ د دوه اړخیزو اړیکو د پراختیا او پیاوړتیا په اړه د ګډې اعلامیې او د دواړو هیوادونو د کورنیو چارو د وزارتونو ترمنځ د همکارۍ د هوکړه لیک په شمول، د افغانستان او تاجکستان ترمنځ پنځه نوي دوه اړخیز تړونونه لاسلیک شول.
- د مارچ په ۲۷ د افغانستان ایران د اسلامي جمهوریت پاکستان او تاجکستان ولسمشرانو څلور اړخیزه غونډه جوړه کړه. د دوی ګډې اعلامیې د آسیا زړه د استانبول د پروسې د چوکاټ په دننه کې د افغانستان په مشرۍ د سیمه ییزو هڅو سره د دوی ملاتړ تکرار کړ؛ د ترهګرۍ د مالي سرچینو او ملاتړ سره د مبارزې لپاره د ګډې امنیتي همکارۍ له لارې د ګډو هڅو پر اړتیا ټینګار وکړ؛ او د مستقیمو خبرو اترو او پخلاینې د ملاتړ او تسهیل پر اهمیت یې ټینګار وکړ.
- د مارچ په ۲۷ د نړیوال بانک د رییسانو بورډ د افغانستان قرغزستان پاکستان او تاجکستان لپاره د مرکزي آسیا، د سویلي آسیا د بریښنا د لیږد او سوداګرۍ د پروژې لپاره ۵۲۶.۵ میلیون امریکايي ډالرو د اعتبار کریډیټ مرسته تصویب کړه. د ډسمبر په ۲ د ترکیې په استانبول کې څلورو هیوادونو د پروژې په اړه د قیمتونو او مقدار تړون لاسلیک کړ.
- د می په ۱۵ د استانبول د پروسې د باور جوړونې د تدبیرونو د سوداګرۍ تجارت او پانګونې د فرصتونو د څلورمې سیمه ییزې تخنیکي ډلې ناسته د هند په نوي ډهلي کې جوړه شوې چیرې چې د ۲۰۱۴-۲۰۱۵ کلونو لپاره د اعتماد جوړونې د اقداماتو د فعالیت پلان جوړ شو.
- د جولای په ۲ په کابل کې ولسمشر کرزي د آسیا او آرام سمندر د چارو لپاره د ایران د بهرنیو چارو د وزیر له مرستیال ابراهیم رحیم پور سره وکتل چې څنګه په ټولو برخو کې د دوه اړخیزو اړیکو د پراختیا د څرنګوالي په اړه خبرې وکړې.
- د جولای په ۸ افغانستان هندوستان پاکستان او ترکمنستان د ترکمنستان - افغانستان - پاکستان - هند د ګازو د پایپ لاین لپاره عملیاتي پلان لاسلیک کړ.
- د جولای په ۱۰ د آسیا زړه – د استانبول د پروسې د لوړ پوړو چارواکو دوهمه ناسته په بیجینګ کې ترسره شوه. تمه کیده چې غونډه د آسیا زړه – د استانبول د پروسې د وزیرانو د کچې د څلورم کنفرانس د اعلامیې د مسودې په اړه تبصرې وړاندې

| | |
|---|---|
| | کړي او د اعتماد جوړونې د شپږو اقداماتو په اړه د پرمختګ کتنه وکړي.<br>• د ۲۰۱۴ کال د شانګهای د همکارۍ د سازمان غونډه د سپټمبر په ۱۱ او ۱۲ په دوشنبې کې جوړه شوه. د غونډي اعلامیه د یوه خپلواک سوله ییز، بې پرې او پرمختللې دولت په توګه د افغانستان او د افغان جوړجاړي لپاره په نړیوالو هڅو کې د ملګرو ملتونو د همغږي د مرکزي رول د پیاوړي کولو لپاره ملاتړ څرګند کړ.<br>• د اکتوبر په ۱۸ ولسمشر غني او د ترکيي ولسمشر اردوغان د امنیت بیارغونې سوداګرۍ او پانګونې د همکارۍ په اړه د ستراتیژیکو همکاریو او ملګرتیا یو تړون لاسلیک کړ.<br>• د اکتوبر په ۲۸ چین ته د ولسمشر غني د رسمي سفر په جریان کې دوارو هیوادونو د سوداګرۍ دوه اړخیزو اقتصادي اړیکو، بشردوستانه مرستو او د عامه کارمندانو لپاره د سفر د جواز په هکله څلور تړونونه لاسلیک کړل.<br>• د اکتوبر په ۳۰ او ۳۱ د آسیا – د استانبول د پروسې د زړه د لوړ پوړو چارواکو ناسته او د وزیرانو کنفرانس په بیجینګ کې ترسره شو. د وزیرانو کنفرانس په یوې اعلامیې سره پای ته ورسید چې سر لیک یې د "آسیا زړه – د استانبول پروسه ده: د آسیا د زړه د سیمې د دوامداره امنیت او سوکالي لپاره ژوره همکاري.<br>• د ډسمبر په ۱۵ د شانګهای د همکاریو د سازمان غونډه په قزاقستان کې جوړه شوه. اجرائیه رییس عبدالله د افغانستان استازیتوب وکړ. |

**اووم. د افغانستان او نړیوالي ټولنې تر منځ مشارکت**

**معیار: د افغانانو تر رهبري لاندې د همغږي په چوکاټ کې د افغان لومړیتوبونو لپاره د نړیوالي ټولنې له خوا منسجم ملاتړ**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ او د حکومت د لومړیتوبونو سره په مطابقت د مرستو د سلنې زیاتوالی | • د ۲۰۱۴ کال د جولای په ۲۴، حکومت د پراختیایي همکارۍ خپلې کلنۍ خبرې اترې پیل کړې کوم چې د مالیې وزارت او سترو تمویلوونکو تر منځ د لوړې کچې ناستې دي چې هدف یې د مرستو همغږي کول دي. د لومړي ځل لپاره د ۲۱۰۴ په خبرو اترو کې د ملګرو ملتونو اداري وجهي صندوقونه او پروګرامونه شامل وو.<br>• په اکتوبر کې د مالیې وزارت د ملي لومړیتوب د پروګرامونو د تمویل کونکو د مالي مرستو د صف بندي کولو په اړه د خپلو مرستو د مدیریت د پالیسی د لارښود یادښت نوی کړ.<br>• د ۲۰۱۴ کال په څلورمه ربع او د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ ربع کې، یو شمیر تمویلوونکو د دولت د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر د غوښتنې په غبرګون کې مالي مرستې برابري کړې تر څو د ۲۰۱۴ کال مالیې |

تشي ډکې کړي. دې مرستې حکومت ته دا فرصت ورکړ چې لومړیتوبونه ته رسیدګي وکړي، د هغو په شمول چې د معاشونو د ورکړې، د بدهي د تادیاتو په شمول چې تر ډېره د بودیجې پر اساس د میکانیزمونو له لارې تادیه شوي.

- د ۲۰۱۵ کال په جنوري کې د ولسمشر دفتر له یو شمیر سترو مرسته کونکو او همدارنګه د ملګرو ملتونو د ادارو د وجهي صندوقونو او پروګرامونو سره تماس ونیو ترڅو د پروګرام د فعالیت او د حکومت د اصلاحاتو د پلانونو سره د همغږۍ په شمول د مرستې او امداد د ځانګو د بیاکتنې غوښتنه وکړي.
- د ۲۰۱۴ کال د مې په ، ۶ حکومت د ۲۰۱۵-۲۰۱۹ لپاره په اصولو سره د ملګرو ملتونو د پراختیایي مرستو چوکاټ تایید کړ چې د دولت د پروګرامونو او پراختیایي پلانونو سره همغږی شوی. دا چوکاټ د افغانستان د پراختیایي اجنډا د کلیدي برخو څخه ملاتړ کوي چې په قانوني اقتصاد، بنسټیزو خدمتونو، ټولنیز عدالت، د قانون په حاکمیت او حکومتدارۍ متمرکز دی.
- د نړیوال بانک له خوا د افغانستان د بیارغونې د وجهي صندوق اداره شوی تشویقي پروګرام وزارتونه د تدارکاتو د ظرفیتونو جوړولو ته هڅوي ترڅو د مالیې د وزارت د تدارکاتو د پالیسي د واحد لخوا تصدیق شي. دا پروګرام د ۲۰۱۲ تر ۲۰۱۴ کلونو پورې د هر کال لپاره د دریو نویو تصدیقونو لپاره موخې ټاکې په ۲۰۱۴ کال کې، د مالیې وزارت په پارلماني چارو کې د دولت د وزیر دفتر ته یو تصدیق راپور ورکړ.
- د حکومت سند چې "د ځان بساینې د تحقق - د اصلاحاتو او نوې مشارکت د ژمنې" تر سرلیک لاندې د تدارکاتو د ټولیزو کړنو د کمولو په موخه لکه څنګه چې د فساد د کلیدي لاملونو په حیث تشریح شوې، خپله اراده وښودله. د ملي تدارکاتو د بورډ په را منځ ته کولو سره چې موخه یې په لوړ ارزښت لرونکو قراردادونو کې د نړیوالو پیژندل شویو معیارونو او طرزالعملونو کارول دي، مدیریت دی.
- د ۲۰۱۴ کال نومبر په ۲۷، د حکومت په غوښتنه او د یوناما په مشرۍ د همغږۍ او نظارت د ګډ بورډ ځانګړې غونډه جوړه شوه. د غونډې پر مهال، حکومت د خپلو اصلاحي پلانونو په اړه کوم چې د افغانستان په اړه د لندن د کنفرانس لپاره چمتو شوي وو مقدماتي معلومات وړاندې کړل او "د ځان بساینې د تحقق – او د اصلاحاتو او نوې مشارکت د ژمنې" تر سرلیک لاندې یې سند وړاندې کړ.
- د ۲۰۱۴ کال په جریان کې د مرستندویه ادارو د مشرانو د مرستې همغږي ډلې په منظم ډول لیدو کاتو ته دوام ورکړ چې د تمویلوونکو د یوازنۍ ناستې تر منځ چې کوربه توب یې یوناما کاوه او د مرسته کوونکو او حکومت ګډې ناستې چې کوربه توب یې د مالیې وزارت کاوه، په منځ کې راځي. منظمې ناستې چې په تعقیب یې د سترو تمویلوونکو فرعي کاري غونډې راځي چې

د دولت او نړیوالې ټولنې په استازیتوب د تدارکاتو او قراردادونو په اړه د حساب ورکونې بهتر کیدل

د افغان لومړیتوبونو او دوه اړخیزو ژمنو په اړه د پرمختګ د منظمې ارزونې د یوې وسیلې په حیث د کابل د پروسې د ملاتړ په برخه کې د ګډې همغږي او بیاکتنې د هیئت پیاوړتیا

| | |
|---|---|
| | ملاتړ یې د پراختیایي پرمختک د رواني بیاکتنې، د حکومت او د تمویلوونکو د دوه اړخیزې ژمنې له خوا کیږي. |

**اتم: د نشه يي توکو سره مبارزه**

**معیار: د تریاکو د کښت د مخدره توکو د تولید او په مخدره توکو په اعتیاد کې پایښت لرونکی کمښت**

| د پرمختګ شاخصونه | مقایسونه |
|---|---|
| د تریاکو د کښت، مخدره توکو د تولید او اعتیاد په میزان کې کمښت | • په ۲۰۱۴ کال کې په افغانستان کې د کوکنارو کښت یو ځل بیا ډیر شو په ټولیز ډول تر کښت لاندې ساحه کې چې اټکل ۲۲۴۰۰۰ هیکتاره ځمکه ده، د ټولټال ۲۰۹۰۰۰هیکتاره ځمکې په پرتله چې په ۲۰۱۳ کال کې کرل شوې، ۷ سلنه زیاته ده. په ۲۰۱۴ کال کې د تریاکو تولید اټکل ۶۴۰۰۰ ټنه و چې دا په ۲۰۱۳ کال کې د ۵۵۰۰ ټنو هغو په پرتله ۱۷ سلنه زیاتوالي ښیي، چې دا د ۱۹۹۴ کال راهیسې د کوکنارو د تولید په برخه کې تر ټولو دوهمه لوړه کچه ده. د تولید زیاتوالی په نرخونو کې د کمښت سره مل و چې دا په خپل ذات کې د هیواد د کوکنارو د اقتصاد ارزښت په ټولیز ډول را ټیټوي . د هیواد په سویل ختیځو او لویدیزو سیمو کې د کوکنارو د ټولیز د ۹۸ سلنې په درلودلو سره، په ۲۰۱۴ کال کې په افغانستان کې له کوکنارو څخه د پاکو ولایتونو شمیر کې کوم بدلونه نه دی راغلی او په خپل ځای پاته شوی.<br>• په ۲۰۱۴ کې د هیواد په ۲۸ ولایتونو کې د درملنې په ټولټال ۱۲۳ مرکزونو کې د مخدره توکو د درملنې د تاسیساتو شمیر ټولټال ۳۹۲۰۰ بسترونو ته لوړ شوي.<br>• په ۲۰۱۴ کې د مخدره توکو او جرمونو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر (UNODC) د دولت او تمویلوونکي له ټولنې سره نږدې کار وکړ تر څو د عامې روغتیا وزارت ته د مخدره توکو د درملنې مرکزونو د لیرد لپاره د لیرد پلان جوړ کړي. د پلان د لومړي پړاو سره په سمون کې په ۲۰۱۴ کال کې د مخدره توکو د درملنې ټولټال ۱۳ مرکزونه حکومت ته وسپارل شول. |
| د مؤثره مخنیوي او د قاچاق پر وړاندې د مبارزې د هڅو زیاتوالی | • په ۲۰۱۴ کې د مخدره توکو پر وړاندې پولیسو ۲۷۳۴ عملیات ترسره کړي چې په نتیجه کې یې ټولټال ۴۱۴۶ کیلوګرامه هیرویین،۶۳۶۱ کیلو مورفین ۶۹۱۶۹کیلوګرامه اپین، ۴۴۵۸۳ کیلوګرامه چرس ۳ کیلو میتامفیتامین ۳۹۶۰۸ کیلو ګرامه جامد کیمیاوي توکي او ۴۸۸۵۱ لیټره مایع کیمیاوي توکي نیول شوي دي. سربیره پردې په ۲۰۱۴ کال کې د هیروینو د تولید ۴۵ لابراتوارونه له منځه وړل شوی دي. دې عملیاتو په پایله کې ټولټال ۲۸۰۳ تورن کسان نیول شوي، د افغان ملي امنیتي خواکونو پنځه تنه منسوبین وژل شوي او د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د پولیسو دوه منسوبین او د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې نهه منسوبین ټپیان شوي دي. |

| | |
|---|---|
| په هغو ځمکو کې چې پخوا پرې ترياک کرل کيدل، په قانوني کرنه او اړونده خصوصي پانګونې کې د پانګې اچونې زياتوالی | • د کيمياوي توکو يا پريکرسرونو په اړه د اسخباراتو ملي کاري ډلې په افغانستان کې د پريکرسرونو د کنترول او معلوماتو د شريکولو د پياوړتيا په برخه کې بين الاداري همکارۍ او ملاتړ ته دوام ورکوي. په ۲۰۱۴ کې کاري ډلې د ضبطونو د ۱۱ قضيو په اړه چې پکې ۵ ټنه اسيټيک انهايډرايډ، ۴ ټنه هايدروکلوريک اسيد او ۱۶ ټنه امونيم کلورايد شامل دي، د پايلو موندني و ارزولې.<br>• د مې په مياشت کې  د افغانستان - قرغزستان - تاجکستان د نوښت په چوکاټ کې د وزيرانو د لوړې کچې ناسته جوړه شوه تر څو د ترلاسه شوې پرمختګ بيا کتنه وکړي او د ګډو فعاليتونو په اړه د لارې نقشه تاييد کړي چې دې د دريو هيوادونو د قانون پلي کونکو ادارو ته د ګډو عملياتو د ترسره کولو وړتيا ورکړه، چې په نتيجه کې يې ۱۳۷ کيلوګرامه چرس او ۱۱ کيلوګرامه اپين ترلاسه او د دوه شکمن کسان ونيول.<br>• په ۲۰۱۴ کال کې  د افغانستان  ايران او پاکستان ترمنځ د درې اړخيزه نوښت په چوکاټ کې  يو شمير ګډ عمليات په لاره اچول شوي چې په پايله کې يې ۲۴۳ کيلوګرامه اپين او ۱۰۲۰ کيلوګرامه چرس نيول شوي او د ۱۰شکمن کسان نيول شوي.<br>• په ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴کلونو کې د کوکنارو په کښت کې د زياتوالي سربيره په عمده ډول په هغو سيمو کې چې له کوکنارو څخه پاکې دي د کرهنيزو توليداتو او حاصلاتو په برخه کې هم د پام وړ زياتوالی راغلی.  د کرهنيزو او غير کرهنيزو توکو په صادراتو کې اوسط زياتوالی په ۲۰۱۴ کال کې ۳. ۳۳ سلنه و. د افغانستان د سوداګرۍ او صنايعو د خونې په حواله،  په ۲۰۱۴ کال کې د وچو ميوو او د درملو د بوټو صادرات په ترتيب سره ۸. ۲۷ او ۵. ۲۰ سلنه لوړ شوي  چې ټولټال ۷. ۲۳۴ ميليون امريکايي ډالره کيږي . سربيره پردې  د غاليو صادرات په ۲۰۱۴ کې ۱۴۹.۰ سلنه ډير شوي او د غلو صادرات ۱۰.۰ سلنه ډير شوي.<br>• د بديل معيشت د نوښتونو په اړه د سيمه ايزې همکارۍ  د ملاتړ لپاره  د ۲۱۰۴ د نومبر ۹ څخه تر ۱۲ پورې د مخدره توکو او جرمونو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر (UNODC) په افغانستان کې د نباتي تيلو د صنعت د را منځ ته کولو په يوه هڅه کې د ايران د اسلامي جمهوريت او تاجکستان د کارپوهانو سره بوختياووي تسهيل کړي او په چين کې يې د پنبې د افغان سوداګرو او نساجي د صنعت تر منځ اړيکې را منځ ته کړې. |